# همبستګۍ غږ

د افغانستان د همبستګۍ ګوند خپرونه

۱۴
پښتو
پسرلی ۱۳۹۸




## د غويي اوومې او اتمې تورو ورځو او ملنډېزې لوې جرګې غندلو په موخه غونډه

مخ: ۴

**همبستگي**

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷

**د ګوند موخې**

- خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان.
- د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
- د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو پرګنو مساوي حقوق.
- د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
- د امریکایی او ناټو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

## پدې ګڼه کې:

د شرمخانو جرګه، د غویي د ۷ او ۸ ناورین ادامه ........................... ۱

د غویي اوومې او اتمې تورو ورځو او ملنډیزې لوې جرګې غندلو په موخه غونډه ۴

کرنل امام خپل جهادي او طالبي بچیان رسوا کړل! ........................... ۸

د روسې یرغل او د ثور د اوومې او اتمې ځناوریز جنایتونه نه بخښو او نه یې هیروو! ........................................................... ۱۳

د ملالۍ جویا ویل شوې حقایقو خپل ځای یې موند ........................... ۱۹

ادانیا فرناندز، هغه ښځه چې ژوند یې د خپلو خلکو لپاره قرباني کړ.......... ۲۷

د نیواکګرو او لاسپوڅي رژیم په واکمنۍ کې طبیعي بلاووې ناورین ګرځي! ..... ۳۳

په ننګرهار ښار کې د زیارکښانو ژوند څخه احوال........................ ۳۶

«د یرې لومه ـ د افغانستان نا ویل شوې کیسه»، آی‌ایس‌آی ته د تنظیمي اخوانیانو د مریتوب لاسوند............................................... ۴۰

د ګلبدیني بشیر قانت یو بل وحشت ........................................... ۴۹

د خپلواکۍ غوښتونکي سید عبدالهادي مبارز یاد دې ژوندی وي ............ ۵۲



اعلامي

# د شرمخانو جرګه، د غويي د ۷ او ۸ ناورين ادامه




د غويـي ۷ او ۸ تـورې ورځـې په داسې حال کې رارسيږي چې جنايتکاران کوښښ کوي د غويي په ۹مـه، بـل داغ زمونـږ په تاريخ کې پريږدي. ملي‌ضد عناصـر او خيانت‌کونکي د سـولې، آرامـۍ او پرمختګ خوږو نومونـو لاندي بياځلې په يوه فرمايشـي او امريکايي «لويه جرګه» کې، کوښښ کوي ترڅو وينه‌بهونکي او منځنيو پيړيو طالبان د جنايت او ځناورتوب له پيټي سـره وبخښـي او په واک کې شـريک کړي. دا جرګه لاره پرانيزي چې دغه بدمرغه هيواد د ښکيلاک، بنسټ‌پالۍ، ارتجاع، ناامنۍ، فساد، لوټ، بې‌عدالتۍ او په نورو ناخوالو کې ډير زيات ډوب شـي. پـه دې نندارېزو جرګـو او خبرو اترو کـې، د رنځيدلو خلکو ريښـتيني اسـتازي نه، بلکـې د غويي ۷ او ۸ جنايتکاران د خپلـو طالبي او تکنوکراتانو ورونـو ترڅنـګ راټوليږي تر څو ولس نـور هم په خپلو کرغيړنـو منګولو کې کلک را ايسار کړي.

په ظاهر کې خليلزاد د سولې راوړلو لپاره منډې ترړې وهي، خو د «افغانستان همبسـتګۍ ګوند» په کراتو ويلي چې «جګړه‌ماران د سـولې بنسـټګر نشـی کيدلـی!» خليلزاد يواځې ددې لپاره هڅې کـوي چې د امريکا جنايت‌کونکي شـتون پرته له کومه خنډه دوام ومومي، کنه ټولو ته روښـانه ده چې امريکا، ناتو او ملاتړي يې په ليبيا، عراق، سـوريه،اکراين، سـوډان او نورو هيوادونو کـې خونـړۍ تاريخچه لـري، څرنګه امکان لـري چې زمونږ پـه هيواد کې د

دموکراسی، پرمختګ او آرمتیا ملاتړي واوسي؟ هوکې، زمونږ ولس په افغانستان د امریکا ښکیلاکګر دولت ځناورتوبونه او بمباري او ترهګرروزنه نده هیره کړې او تر اوسه تېږي او ستي دی. د هغوی په یاد دي چې څرنګه یې د اووه‌ګونو او اته‌ګونو تنظیمونو مشران چې په موږ کانو بدل شوي ول، په یوه شپه کې ترینه داړونکي لیوان جوړ کړل او هغوی یې پر خلکو ورخوشې کړل. او نن بل خیانت ترسره کوي چې د راکټیار ترڅنګ، سختدړي طالبان هم د ولس پر تېږي بدن ورخوشې کوي.
بل ټکی داده چې آیا هغه امریکاپرسته وطني خسي شوي روڼ‌آندي چې هره ورځ د نیواک څخه په پلوي خوسا تلویزیوني او فیسوبکي شننې ورکوي چې هر شرافتمند انسان یې په لیدو او اوریدو له غوسې څخه سور کیږي، دومره وجدان لري چې شرم وکړي چې نن امریکا او ملاتړي هماغه طالبان چې دوی له منځه وړي ول، یوځل بیا یې راولي او په ارګ کې کښینوي چې په حقیقت کې زمونږ د ولس په تېږي بډوډو یې سپروي؟ ځني د «بدیل» او «ځای‌ناستي» نه نشتون څخه نالیږي، خو دوی د انفعال، جوړجاړي او معاملو له لارې عملا هیواد د ارتجاع او ښکیلاک او بنسټپالی په توپان کې ډوبوي. د یو روڼ‌اندي موضعګیري ده چې هغه د یو مخکښ مبارز او خلکو دوست په کتار کې راولي یا په یو مرتجع او د جنایتکارانو په تالي‌څټي بدلوي.
تنظیمي مشرانو لکه عطا، محقق، قانوني، تورن اسماعیل او ... یوځل بیا خپل ناولی ماهیت ننداري ته وړاندې کړ چې تر پرونه یې د «طالبانو پر وړاندې د مقاومت» باټې وهلې، اوس د آی.ایس.آی چوپړانو طالبانو قدمونو ښکلولو لپاره مسکو ته منډې وهي او ددغې چوپړې ډلې انسان‌خوړونکو استازو زیارت لپاره دوحې ته سر ماتوي. زمونږ خلک په سمه توګه پوهیدلي دي چې دوي څومره ذلیله هیوادپلورونکي دي چې هر ډول سپکاوی مني.
په ورته وخت کې، ع او غ چې له دغو خبرو اترو سره د مخالفت اکت کوي، که دومخي او لاسپوخي نه وای، لږ ترلږه د ټولو خلکو غوښتونو په اساس یې باید د زرګونو سرتیرو او پولیسو او هیوادوالو د وینې غچ اخیستلو لپاره انس حقانی یې په دار ځړولی وای. خو نور مو په تجربې سر موندلې چې دوی دواړه له خلکو سره خواخوږي نه لري یواځنۍ مینه یې د هغو څوکیو ساتل دي چې جان‌کیري ورکړي دي!
دا زمونږ د ولس دنده ده هماغسې چې د انګلیسي او روسي یرغلګرو پر وړاندې د پاڅون ویاړ لري، یوځل بیا یو موټې د امریکا ښکیلاکګر دولت او د هغوی

تنظیمي او طالبي چوپړانو پر وړاندې راولاړ شي. تر هغې چې د بدمرغه هیواد خپلواکي بیرته لاسته رانه وړو، زمونږ د خلکو په برخلیک باندې د پردیو له لوري دغه خاینانه لوبې به تر ډیره دوام ومومي. باید د هیواد په لر او بر کې ددغو ټولو ناتارونو پر وړاندې مقاومت کونکې ډلې رامنځته کړو. زمونږ د هیواد ښځې باید د میوند ملالۍ، مینا او ناهید په څیر د طالبانو او ۷ګوني او ۸ګوني تنظیمونو پر وړاندې د مقاومت بیرغ اوچت کړي. باید د ملالۍ جویا او بلقیس روشن په څیر ددغه ډول شرمخانو جرګو ماهیت بربنډ کړي تر څو د نورو ۷ او ۸ ناروینونو شاهدان نه اوسو. تاریخ په کراتو ثابته کړې چې د ملي خاینانو او د هغوی بهرنیو اربابانو پر وړاندې له مبارزې او مقاومت پرته بله هیڅ لاره د سولې، عدالت، دموکراسۍ او نیکمرغۍ په لور نشته.

**د افغانستان همبستګۍ ګوند**

د ۱۳۹۸ کال د غويي ۶مه – د ۲۰۱۹ کال د اپریل ۲۶مه



لیکونکی: افغانستان همبستګۍ ګوند

گزارشونه

# د غويي اوومې او اتمې تورو ورځو او ملنډيزې لوېې جرګې غندلو په موخه غونډه




۱۳۹۷ کال د غويي ۶مه (۲۰۱۹ کال د اپريل ۲۶مه): نن په کابل ښارکې د «افغانستان همبستګۍ ګوند» غړو او پلويانو د يوې غونډې په ترڅ کې د غويي اوومې او اتمې تورې ورځې او د سولې ننداريزه جرګه وغندله. دوه کرغېړنې ورځې چې اوس دولت د غويي په ۹مه کوښښ کوي د ځناورو طالبانو له مخ او سر څخه د وينې په څښلو زمونږ د تاريخ په کليزه کې يوه بل داغ ووهي. معترضانو لاندې شعارونه ورکول: «نندايزې جرګې جنايت دی، جنايت!»، «د ولس له وژونکو سره سوله خيانت دی، خيانت!»، «تنظمي او طالبي انسان‌وژونکي نه بخښو!»، «د خپلو بيګناه خلکو وينه نه بخښو!»، «ژوندی دی وي د خلکو پاڅون د تنظيمي او طالبي جنايتکارانو پر وړاندې!»، «ژوندی دې وي د امريکايي نيواکګرو پر وړاندي د خلکو يووالی!» او سربېره پر دې يې يو شمير پلاکارتونه له ځانه سره لرل چې پکې د جهادي او طالبي ځناورو د شډلتيا انځوونه ول.

آغلې سيلۍ غفار چې د غونډې له ويناوالو څخه وه، وويل:

«ننني اعتراض نه يواځې د غويي اوومې او اتمې غندلو په موخه بلکه د طالبانو او کرزي حکومت او غني حکومت جنايتونو غندلو په موخه هم ده او د فرمايشي، خلکو ضد او امريکايي مشورتي سولې جرګې پر ضد هم ده. د غويي په ۹مه ۷ او ۸ خونړيو ورځو ترڅنګ زمونږ د تاريخ په پاڼو کې به يو بل داغ هم پورې شي. هغه څه چې روښانه دي دغه جرګه پرته له دې چې زمونږ

خلک نور هم د بدمرغۍ او در په درۍ کنده کې ډوب کړي بله هیڅ ګټه نلري.

زمونږ خلک به طالبان د تبسم پرې شوي ستوني، د زرمینې بیګناه وینو، د رخشـــانې لـــه درده ډکو کریکو، د بامیانو بتانـــو ورانولو، د مزار او یکاولنګ ټولوژنو او لســـګونه نور ناتارونه یې چې ترسره کړي هیڅکله هم ونه بخښي. دغـــه د منځنیـــو پیړیـــو ډله او د پردیـــو چوپړان په هیڅکله اهلي نشـــي که څه هم خلیلزاد کوښـــښ وکړي هغوی په ښایســـته زروقو کې راونغاړي. امریکا په داســـې حال کې خپل طالبي چوپړان د خبرواترو میز ته راکش کاږي چې بله ځناوره ډله د داعش په نوم زمونږ د خلکو وژلو لپاره روزي.»

هغـــې د امریکا په ښـــکیلاکګرو لوبو کـــې د مجلس ســـیناګرو او وجدانپلورونکو ښځو رول وغنده او وویل:

«په دې ورځو کې څو تنه ســـرکاري ښـــځې د مدني ټولنې په چوکاټ کې ګواکې د افغانو ښـــځو په اســـتازیتوب د محقق او ګلبدین په څیر جنایتکارانو لیدو ته ځي. دوی هیڅکله د کړیدلو افغانو ښـــځو اســـتازیتوب نشـــی کولای. دوی پلورل شوی او نیانځکی دي چې د پیسو او پروژې په بدل کې چمتو دي هر ډول خواري او ذلت ومني.»

د غونډې په یوه برخه کې ماشومانو د وروستیو پیښو قربانیانو انځورونه په لاس کـــې لرل. د همبســـتګې ګونـــد ځوانانو د یوې نندارې په ترســـره کولو د تنظیمي او طالبـــي او تکنوکراتانـــو رول ثمیل کړل چې زنځیر یې د خلیلـــزاد په لاس کې وو او هغوی یې هرې خواته راکاږل.




ماشـــومان د وروســـتیو ځانوژونکو پیښـــو قربانیانو انځورونه په لاس کې لري او ددې جنایت ترسره کونکو د محاکمې او سزا ورکولو غوښتونکي دي.

له ښي څخه چپ لوري ته:



علي سلیمی د مشعل تلویزیون انځورګر د شش درک ځانوژونکي برید قرباني، کابل

رامز احمدی د طلوع تلویزیون انځورګر د دشت‌برچي پهلوانۍ کلپ د ځانوژونکي بربد قرباني

سباوون کاکړ د آزادۍ راډیو خبریال د شش درک ځانوژونکي برید قرباني، کابل

عطاالله د دولسم ټولګي زده‌کونکی د موعود کورس ځانوژونکي برید قرباني

سیلم تلاش د مشعل تلویزیون خبریال د شش درک ځانوژونکي برید قرباني، کابل

صمیم فرامرز د طلوع تلویزیون خبریال د دشت‌برچي بهلوانۍ کلپ د ځانوژونکي بربد قرباني

غازي رسولي د یک تلویزیون خبریال د شش درک ځانوژونکي برید قرباني، کابل

فرزانه د عطاالله خور د دولسم ټولګي زده‌کونکې د موعود کورس ځانوژونکي برید قرباني

داوود د دولسم ټولګي زده‌کونکی د موعود کورس ځانوژونکي برید قرباني

شهید تبسم له شپږ تنو نورو سره د جاغوری – قندهار په لارکې د طالبانو له لوري په ۱۳۹۴ کال کې ستونی پرې شو.


۸ ثور
ماتم ملی
هشت و هفت ثور
دو روز سیاه تاریخ افغانستان
طاعونیان ۸ثوری عاملان
به آتش کشاندن کابل هستند!
تحمیل
باند وحشی
گلبدین،




هشت ثور
سیاهتر از
هفت ثور


افغانستان را نمی‌گذاریم
به عصر حجر برگردد!
عاملان این جنایات
باید توسط مردم افغانستان
محاکمه شوند!
امرک بیمار،
قاتل
روشنفکران را
نمی‌بخشیم!
جرگه گفتاران
۸ ثور
ماتم ملی




لیکوونکی: قباد

# کرنل امام خپل جهادي او طالبي بچیان رسوا کړل!



د افغان بنسټپالو ډلو د تجهیز او تمویل د څرنګوالي په اړه د «سي. آی. ای»، «آی. ایس. آی»، «موساد»، د ایران داعشي رژیم او د عربي هیوادونو د استخباراتو پورې اړوندو ادارو له لورو ډیری پټ اسناد په تیروتنې یا قصداً راوتلي، تر دې چې ځینې یې د کتاب په بڼه هم چاپ شویدي. د «آی.ایس.آی» پخواني لوړ پوړي افسر سلطان امیر(کرنل امام) په ۲۰۰۹ م کال کې د مشهور پاکستاني خبریال افتخار احمد سره د جیو تلویزیون په «جوابده» خپرونه کې په صراحت سره وویل چې: (آی.ایس.آی) د اخواني او طالباني ډلو په ترتیب، روزنه او رامنځته کیدنه کې پراخه لاس درلوده. نوموړې په ډیرې سپین سترګۍ سره یې د خپلو ځناورو طالباني شاګردانو د کړنو څخه ننګه وکړه.

د موضوع په کې مو د کرنل امام د خولې څخه «سیا» یا (سي.آی.ای) ته د کرزي د جاسوسي اړه لیکلي. اوس به راشو د مرکې بلې برخې ته چې «آی.ایس.آی» ته د تنظیمي جنایتکارانو مزدوري راښایي.

استیوکول پخپل کتاب «مشبوع جګړه» کې د کرنل امام په اړه لیکي:

«د پیښور د «آی. ایس.آی» دفتر د یوه ځواکمن پښتون افسر چې د کرنیل امام په مستعار نوم یادیده، اداره کیده، نوموړي د حکمتیار سره نږدې اړیکې لرلې»۵۱ مخ -کرنل چې په پیښور کې د خپلو جهادي تولیداتو سرپرستي په

غاړه درلوده. په یاده مرکه کې د تنظیمي ډلو سره د خپلو اړیکو په اړه داسې وایې:

«په لومړي ځل کله چې په ۱۹۷۴م کال کې د پوځي زده کړو لپاره امریکې ته لاړم د تنظیمي ډلو سره په اړیکه کې شوم...»

په پېښور کې د پاکستاني مشرانو پواسطه د اووه ګونو تنظیمونو د رامنځته کولو په اړه وایي:

«... بوټو نصیرالله بابر ته وویل چې دوي(جهادیان) تنظیم کړې... بابر صیب هوښیار او مدبر سړی وه، د تنظیمولو لپاره یې د یوه سیاسي ګوند بنسټ کېښود. رباني صیب چې پروفیسور وه، ګوند سره یوځای شو. همدارنګه مولوي خالص هم د ګوند سره یوځای شو... د افغانانو یوځای کول داسې دي لکه په یوه مردار ډنډ کې چې چونګښې وشمیرئ... یوځای کولو یې شپږ میاشتې وخت ونیوه. تښتیدونکې ۳۵ تنه نوې ځوانان ول (ګلبدین، مسعود او رباني ته یې اشاره ده چې د ناکامې کودتا او ماتې وروسته چې د سردار داوود لخوا وټکول شوه پاکستان ته تښتیدلي وه)...په پایله کې ګوند رامنځته او دوه مشران یې درلودل. زه په هغه وخت کې د پېښور د جم کماندو پوځي ښوونځي زده کوونکی وم»

- د خپرونې چلوونکی د هغه ځخه پوښتي، (آیا تاسې ګلبدین او مسعود د هغه وخت ځخه چې په کابل کې یې د ښځو پر مخ تیزاب شیندل پیژندل؟)لږ موده آرام شوه بیا یې وویل:

«هو، هو. هغه وخت ما د هغو کړنو په اړه اوریدلي وه خو لیدنه مې ورسره نه وه کړې. هغوي اسلامپاله وه... انجونې پرته له څادره، د جرابو سره ښوونځیو او پوهنتون ته تللې. هغوي انجونې د ښوونځیو او پوهنتون له ټګ ځخه منعه کولې، که چیرې بیا هم تکراریده، نو د ویرې د خپرولو لپاره یې بوتلونه له تیزابو ځخه ډک او د انجونو پر مخ به یې شیندل.»

که څه هم د شوروي یرغلګرو پر وړاندې زموږ د هیواد د خلکو حماسي او تاریخي مقاومت او سربښندنې شوروي یرغلګر مات او له هیواده شړلو ته اړ کړل، خو له بلخوا د امریکې او غربي ملګرو، پاکستان او عربستان هیوادونو ته په هیواد کې د لاسوهنو زمینه جوړه او د افراطیت او ناپوهۍ تخم یې زموږ په هیواد کې وشیندلو. امریکایي امپریالیزم او د پاکستان جنایتکاره دولت پدې پوهیده چې د روسي ځواکونو له وتلو او په هیواد کې د یوه مقتدره خپلواک دولت په رامنځته کیدو سره د دوي ګټې له ګوابښ سره مخ کیږي. نو د همدې لپاره یې د زرګونو

اجیرو ترهګرو او بنسټپالو د روزولو پواسطه پر روسي ضد مقاومت وتپل او د ولس د خپلواکۍ غوښتونې جګړه چې اصلي موخه یې د خپلواکۍ اخیستل وه منحرفه، او د پاکستان په کمپونو کې د زرګونو ترهګرو په روزلو یې په مستقیمه توګه زموږ د هیواد د نیواک زمینه برابره کړه. کرنل امام د شوروي پر ضد د لسګونه زره بنسټپالو جنګیالیو لکه د ملاعمریانو، ګلبدینانو، سیافانو، حقانیانو او...نورو د روزنې دنده په غاړه اخیستې وه. د خبریال ددې پوښتنې په ځواب کې چې «تاسو د ۹۵ زره تنو برسیره د ملاعمر، ګلبدین، احمدشاه مسعود... روزنه هم په غاړه اخیستې وه؟» په ځواب کې یې وویل: «هو. خو زه یوازې نه وم. نږدې ۲۰۰ تنه افسران وه چې روزنه مو ورکوله او په ۱۲ یا ۱۳ ډلو ویشل شوه وه.»

کرنل امام د خبریال دغې پوښتنې ته چې «تاسې خو هغوی ته د روس ضد انقلاب پیچکارۍ تزریق کړې وه، هغوي ته مو ایډیالوژي، شعور او ذهنیت ورکړی وه. کله چې جګړه پای ته ورسیده، ومو نشوه کړای پر هغو کنټرول ترلاسه کړئ او وروسته هغوي د ټولې سیمې لپاره د ویجاړۍ یوه عامل وګڼل شول؟» د یوه بي رحمه ربړونکي په څیر یې په سره سینه د هو ځواب ورکولو سره زیاته کړه «هو. خو نور لاملونو هم شتون درلوده لکه امریکا چې دوي یې خراب کړل»

هغه په افغانستان کې د بنسټپالنې او جهالت ټوله پړه پر امریکا اچوي او پدې برخه کې د «آی.ایس.ای» ترهګرپاله سازمان پر کړنو سترګې پټوي. خو آیا هغه لږ څه هم پدې نه پوهیږي چې په افغانستان او سیمه کې د بربریت او جهالت روانې څپې چې د امریکا او غربي ملاتړو لخوا پیل شوي پرته د «آی.ایس.ای» د منلو او صمیمانه همکارۍ څخه ناممکنه وه. «آی.ایس.ای» په سیمه کې د «سیا»، د عربستان استخبارات، «واواک» او... نورو په مرسته د جهل او بنسټپاله جنایتونو په خپرولو کې اساسي رول لوبولی دی.

سره جګړه چې د امریکا او سیمه اییزو همکارانو غوټه یې د بنسټپاله ډلو سره نور هم کلکه کړه. امریکا او ملاتړو یې د جهادي ترهګرو څخه په ګټه اخیستنې سره د شوروي پر ضد ترټولو اسانه او ارزانه لاره او وسیله پیداکړې وه. چې د عربستان د ارتجاعي دولت په مرسته یې د خلیج هیوادونو زرګونه بنسټپاله جنګیالیو ته د القاعده شبکې د مشرانو په ګډون د پاکستان په کمپونو کې پوځي روزنې ورکړې. چې پایله یې د افغانستان، عراق، لیبیا، یمن، سوریه... ویجاړي وه. دا چې څرنګه «آی.ایس.ای» د القاعده څخه ګټه اخیسته وایي:

> «د بن لادن سره مې وروستۍ اړیکه په ۱۹۹۰ م کال د جلال اباد په جګړه کې وه، مخکې لدې چې سوډان ته لاړ شي، له هغه مې د جلال اباد په جګړه

کې ګټه واخیسته»

همدارنګه د سیاف سره د بن لادن د مالي مرستو په هکله وایي:

«بن لادن د سیاف خواته راغلی وو او هغه ته یې پیسې ورکړې... هغه نږدې ۱۴.۸ میلیونه ډالر د مجاهدینو ترمنځ وویشل. هغه د سیاف میلمه وه. زه به هم چې کله د هغه ځایه تیریدم له هغوی سره مې یوځای چای څکلو.»

په هرات کې د خپلو اجیرو جهادیانو د بنې بدرګې په اړه وایي:

«په ۱۹۹۴ م کال کې ماته وویل شوه چې په هرات کې د پاکستان قونسلګرۍ فعاله کړم. کله چې له کندهاره د هرات په لور روان شوم. په لار کې د مجاهدینو ۲۰ موټرو زما موټر بدرګه کاوه»

کرنل امام په افغانستان کې د شوروي له وتلو وروسته د اسلامي دولت د رامنځته کیدو په اړه د «آی.ایس.ای» د هیلو په اړه وایي. او هغه یې د جذبې څخه ډکه دنده بلله. هغه د بنسټپالود پلار په څیر د افغان تنظیمي غلامانو سره په کار کولو کې ډیره تجربه ترلاسه او خپل دغه شرارت او حرص یې د تنظیمي نوکرانو په ویروسي مغزونو کې وردننه کړو. د تنظیمي چوپړانو سره په کار یې لوړ مهارتونه پیدا کړل او همدا سبب وه چې د «آی.ایس.آی» رهبرۍ شورا د طالبانو پروژې مسوولیت ورکړو، هغه وایي:

«ملا عمر کمپ ته راغی، هلته پوځي زده کړې ورکړل شوې... ملا عمر د رباني په ګوند کې وه... هغه له زده کړو وروسته په جګړه کې برخه واخیسته او ټپي شوه، مونږ په کراچۍ کې د هغه درملنه وکړه... ما او ملا عمر په ۱۹۹۵ م کال کې یوه لیدنه درلوده»

هغه په کبر او ویاړ د طالبانو لړمخویه مشران خپل شاګردان ونومول هغه وایي:

«ملا یار محمد، ملا عبدالرازق، ملا رباني او د طالبانو نور قومندانان زما شاګردان ول... ما وړاندیز وکړو چې د دیني مدرسو شاګردانو ته پوځي زده کړې ورکړم. څکه ډیر ښه یې زده کولې... ما ملا عمر ته وویل هیڅکله د امریکا سره جبهې جګړې ته داخل نشئ، بلکې چریکي جګړه وکړئ... هغوی د دوستم پشان کافر شخص مجاهدینو پرضد جګړې ته مسلح کړی وه او جګړې ته داخل شوی وه»

کرنل امام د افغانستان دننه د طالبانو په جنایتکارانه جګړو کې برخه اخیستې وه. استیوکول د طالبانو پواسطه د مزار په نیولو کې د کرنیل امام شتون په خپل کتاب کې رانقل کړی دی:

«په هغه اوونۍ کې چې د بن لادن پیروانو په ختیځه افریقا کې د امریکا

دوه سفارتونه تر برید لاندې ونیول، طالبانو چې ورسره د پاکستان د مدرسو طالبان هم یوځای او شمیر یې زیات شوی وه او د پاکستان د استخباراتي اداري له ملاتړ برخمن وه، د مزارشریف ښار یې ونیوه. کرنیل امام د «آی. ایس.ای» یو افسر په یوه ټلیفوني اړیکه کې چې د امریکایانو لخوا ثبت شوې وه، ویلي وه: زه او زامن مې د مزارشریف ښار ته د داخلیدو په حال کې یو»(۱۶۱مخ)

تنظیمي مشران او په ځانګړي توګه جمعیتیان سره له دې چې په ظاهره د پاکستان ضد دي خو بیا هم نشي کولای د پاکستان او «آی.ایس.ای» د ننګینې غلامۍ تاج پټ کړي. دغه لاسوندونه او د بادارانو افشاګري د هغوي په زیړو مخونو کلک ګوزار دی.




# عمران خان د پاکستان پوځ په جیب کې!

کارتونیست: **Satish Acharya**

لیکونکی: حامد

# د روسي يرغل او د ثور د اوومې او اتمې ځناورېز جنايتونه نه بخښو او نه يې هېروو!




د ثور د اوومې کودتا وروسته فراه هم د نورو ولايتونو په څير د خلقي او تنظيمي جلادانو لخوا قرباني شوه. خلقي جلادانو د اشرارو او انقلاب ضد په نومونو په زور د کليوالو کورونو ته دننه کيدل، ټول شته مالونه يې کوځو ته غورځول او په اور يې سيځل. دغو وينې څښونکو زمور په کلي د يوه ستر بريد په ترڅ کې ۱۵ تنه بيګناه د کلي مخور ونيول او پرته له هيڅ ډول محاکمې يې ژوندي خښ کړل.

په لاندې ليست کې د هغو خلکو نومونه دي چې يوازې د دو قلعه سيمې څخه په ډليز ډول پرته له هيڅ کوم ډول جرمي مدارکو په يوه ورځ د خلقي او پرچمي جلادانو د ثور د مقدس انقلاب د خرمستۍ قرباني شول.

| شمیره | نوم | د پلار نوم |
|---|---|---|
| ۱ - | حاجی اسماعیل | شیرمحمد |
| ۲ - | معلم عبدالقدوس | ملامحمد |
| ۳ - | عبدالظاهر | حاجی عبدالوهاب |
| ۴ - | عبدالغفور | ملا حسین |
| ۵ - | عبدالرحمن | ملا محمد عمر |
| ۶ - | ملک شاه | محمد ملا غفور |
| ۷ - | ملا رشید | امیر محمد |
| ۸ - | مفتی فقیر احمد | ملا رووف |

| | |
|---|---|
| ۹ - صوفی رحیم | داد محمد |
| ۱۰ - ملا عبدالسلام | شریف |
| ۱۱ - عبدالجلیل | ملامحمد |
| ۱۲ - عبدالبصیر | عبدالرحمن |
| ۱۳ - عبدالواسع | عبدالرحمن |
| ۱۴ - عبدالرقیب | ملا عثمان |
| ۱۵ -عبدالعزیز | ملا رشید |



د روسانو په تیري سره دغې لړۍ نورې خواووې پیدا او پراختیا یې وکړه. ځینو خلقي او پرچمي ځناورو چې ځانونه یې د میدان یکه تازان بلل په ملنډو سره یې د خلکو ځورول پیل کړل. د سیمو د حالاتو په اړه خبرې کول یا د بي‌بي‌سي خبرونو اوریدل جرم بلل کیده، او د نظام مخالفت او یا بلوا کولو سزا زندان او اعدامول وه.

د یو تن خپلواکۍ غوښتونکي معلم مور چې په کراتو د خلقیانو لخوا پدې جرم چې زوی یې د رژیم مخالف دی، وهل ټکول شوې ده کیسه کوي:

«د کور تر شا مو د ګاونډیانو پالان وه. ما د بام له سره غږ کړه، محمد امینه لږ ترک (د فراهیانو په عامه اصطلاح تره ته ترک وایي) راکړه. محمد امین راته وکتل ویې ویل د معلم صیب مورې نور ترک مه وایه، د خټکي بچې وایه. که خلقیان پوه شي چې بیا د ترک (موخه یې تره کی) پرېښودل په ذهن کې لرې، تا به ووژني.

د روسې یرغلګر پوځ او د هغوي خادي رژیم چې زموږ د خلکو د مقاومت پر وړاندې ماته خوړلې وه، له ۱۳۶۱ ه ل کال وروسته یې په ټول افغانستان کې ځناوریز هوایي بریدونه څو چنده کړل. د بیلګې په توګه د ۱۳۶۳ ه ل په پسرلي کې په دو قلعه سیمه د روسي او هغوي داخلي جاسوسانو لخوا وحشیانه بریدونه ترسره

کړې چې ځینې یې ټپیان او ځینې یې د خپلو اولادونو غم ته کېنول.



لا ماشومه نه وم، د ژوند په ښه او بد نه پوهیدم. نه پوهیدم چې د ژوند سپرلی به مو خزان شي. یوه ورځ چې باد هم لګیده، د خپلو همزولو سره د کلي په یوه کونج کې په ساعتیرۍ بوخت وم. چورلکو د فیشنګونو په خپرولو سره یې ځینې ښې وویشتې. لږ وروسته جیټ الوتکې راغلې او کلی یې له خاورو سره خاورې کړ. یوه عجیبه د وحشت فضاء خپره وه. فکر مې وکړو زموږ حویلۍ اور اخیستی دی او اور ترې پورته کیږي. د هر بم په غورځیدو سره مې لړزه په وجود راتله او ځان مې راغونډوه. د ونو ښاخونو د هر بم د چاودنې او د بم د پرخچو په لګیدو سره یو وحشتناکه غږ رامنځته کاوه.

د بمبارد وحشت تقریباً نیم ساعت دوام وکړ. غم او درد هرې خواته خپور وه، هر چا به همدا چیغې وهلې: زوی مې، ورور مې، خور مې، مور مې......... کلیوال په بیل او ګلنګ سره د خپلو ورکو خلکو په لټه کې ووتل، شهیدان او ټپیان یې د خاورو راوویستل. په هغه شیبه کې نه ډاکټر وه، نه روغتون او نه هم دوا...»

د قربانیانو یو تن نږدې خپلوان کیسه کوي:

«همدا چې هغه بده ورځ په یادوم، اوښکې مې په سترګو کې ډندې شي. په ځانګړې توګه کله چې د طاهر جان او یو نیم کلن واسع جان مړي مو د هغوي له مور سره یوځای وروسته له یونیم ساعته له خاورو راوویستل. واسع جان ژوندی وه، نفس یې ویسته، موږ خپل لاس او پښې ورکې کړې وي، د ویالې له اوبو مو څو څاڅکې اوبه په خوله کې ورته واچولې. له بدهمرغه د صحي خدماتو نشتون ددې لامل وګرځید چې زموږ په مخ کې ساه ورکړې. لس کلنه ګلدسته چې بام ته ختلې وه د چورلکې د راکټ د لګیدو له امله یې سر له تنې بیل شوی وه. وروسته له دوو ورځو پلټنې څخه مو جمجمه پیداکړه.

د دریو اولادونو په غم کې د مظلومې مور چیغې د هر با وجدانه انسان په بدن کې ویښتان ودرول. هغه وحشتونه مې تر اوسه په ذهن کې غوغا کوي او زه هم پخپل نوبت دغه جنایات هیڅکله نه بخښم او نه یې هیروم.»

محمد سرور چې یو شریف، نکته دانه او ښه‌خویه انسان وه چې اوسمهال وفات شوی دی، کیسه کوله: «د غونډۍ په سر کې وم چې بمبارد پیل شوه، لومړنی او دوهم توپ زموږ په حویلۍ کې ولګیدل او زموږ حویلۍ یې داسې هواره کړه چې یوه شیبه مې فکر وکړو زموږ کور ندی. کله چې بمبارد پای ته ورسید په منډه مې ځان زاړه سرای ته ورسوه، هلته مې دوه لورګانې وي چې ژوندۍ پاتې وي. د مور په اړه مې ترې پوښتنه وکړه، ویې ویل مور مې او ورور مې هلته حویلۍ کې وه.. کله مې چې صحنه ولیده پښې مې شلې شوې او پرځای ودریدم. د هغوی د ژوندي پاتې کیدو هیله مې له لاسه ورکړې وه ځکه هلته یوازې یوه ختمینه تیره پاتې وه. ګاونډی مو ژر ماته ځان راورساوه ویې ویل اولادونه دې ژوندي دي پریښانه کیږه مه... ومې ویل د کور او مال غم راسره نسته. شکر چې ژوندي دي. کله چې مې میرمن ولیده، داسې وه لکه تازه چې له قبره راویستې وي. سر او مخ یې په ګردونو پوښلي وه او په عجیبه انداز یې را کتل»

پدې توره ورځ کې ۱۲ تنو هیوادوالو مو خپل خوږ ژوند د لاسه ورکړ چې نومونه یې په لاندې ډول دي.

| شمیره نوم | د پلار نوم |
|---|---|
| ۱ - عبدالظاهر | محمد ظریف |
| ۲ - عبدالواسع | محمد ظریف |
| ۳ - ګلدسته | محمد ظریف |
| ۴ - عبدالحفیظ | شمس‌الدین |
| ۵ - سیداحمد | نصرالدین |
| ۶ - درویش | محمد عمر |
| ۷ - عبدالله | باقی |
| ۸ - محمد هاشم | ملا قاسم |
| ۹ - غلام | عزیز |
| ۱۰ - رقیه | عزیز عبدالله |
| ۱۱ - محمد عظیم | موسی |
| ۱۲ - ملنګ | موسی |

د روسي یرغلګرو او د هغوی د لاسپوڅو د جنایاتو له امله د فراه شیب کوه

ولسوالۍ اوسیدونکي په وحشت کې ولویدلي وه، د سیمي اوسیدونکي هره ورځ د جنګي الوتکو د برید له ویرې خپل کورونه پریښودل او په باغونو او پټیو کې به پټیدل. تردې چې اجباري کډوالۍ یې غوره وګڼله او ایران یې د زړګونو بې احترامیو سره سره مهاجرت لپاره غوره کړ.

کریم احمد د دو قلعه سیمې یو تن اوسیدونکی وایي:

«دا سمه ده چې روسانو او د هغو لاسپوڅو حتا په شپونکیو او بزګرانو هم رحم ونکړ او د عبدالحمید، لطیف علم، نوراحمد او په لسګونه نورو پشان مظلوم خلک د همدې سیمې څخه په بې هویته توګه تر خاورو لاندې کړل. خو د قضیې بل اړخ چې د جهادي تنظیمیانو په اړه دی هم ډیرې کیسې لري.»

د ثور انقلاب په همغه لومړیو وختونو کې یوه شپه څو تنه چې ځانونه یې مجاهدین بلل، د کلي په پورتنۍ برخې حمله وکړه او د کلي څو تنه بې ګناه خلک پدې ګمان چې تاسې د دولت همکاران یاستئ، او خپل خپلوان مو خلقیان دي. له خپلو کورونو وویستل او د غرب په لور یې یوړل. دوي په حقیقت کې بې ګناه او د کلي بزګران وه، په لیک او لوست نه پوهیده. حتا له خپل کلي هم نه وو بهر شوي او هیڅ ګناه یې نه درلوده. د شپې نږدې یوه بجه وه چې دغه اووه تنه یې له وهل ټکول او ښکنځلو وروسته د دغال کځلګر په سیمه کې قطار ودرول او د شا لخوا یې په مرمیو وویشتل. میر احمد ولد رسول، ملا اعظم ولد حسین، فضل احمد ولد عبدالله، حبیب ولد حسن یې شهیدان کړل. او حبیب محمد اکبر، ذهین الدین، جلال او حلیم رحیم ټپیان کیږي او د شپې له تیارې څخه په ګټنې یې ځان د نورو په وینو ولړل او ځانونه یې وژغورل. انسان وژونکي مجاهدنمایانو سیمه پریږدې او تیښته کوي، بلاخره یو تن ټپي ځان کلي ته رسوي او نور کلیوال خبروي.

د کلي یو بل تن اوسیدونکی د یو بل مثال په راوړلو سره موضوع پدې شان روښانه کوي:

کله چې محجاهدینو معلم صیب محیي الدین د معلمۍ په جرم له ځان سره یوړه. د امر الدین په نوم کوچنی ورور یې چې د شپږم ټولګي زده کوونکی وه د هغه په تعقیب پسې لاړ، ترڅو مور او پلار ته یې چې ډیر زیات غمجن او ځړغوني وه احوال راوړي. دغو وحشیانو حتا پر دغه کوچني ماشوم هم رحم ونکړ او د خپل ورور سره یو ځای یې سر ترې پرې کړ. د عبدالحفیظ په نوم ددې کورنۍ ترټولو کوچنی او وروستی پاتي شونی د روسانو په بمبارد کې ژوند وبایللو، چې دا کورنۍ یې له یوه سره تباه کړه.

په تیرو څلورو لسیزو کې د خلکو ضد زیات رژیمونه ښکته پورته شول. خو هیڅ یوه رژیم ونشوه کړای چې خلکو ته نسبي امنیت او کور او ډوډۍ برابره کړي. په اوس وخت کې هم د دو قلعه سیمې اوسیدونکي اوسمهال د طالبانو په تر سلطې لاندې د سختي ژوند کویږ د کلي اکثریت خلکو سیمه پریښې او نورو سیمو ته کډوال شویدي، یا هم په ایران کې د مجبوریت شپې سبا کوي.

د خوشحالۍ ځای دی چې زموږ آزادیخواه او غیوره ملت په هغه مهال کې د سوسیال امپریالیزم د لوې امپراتورۍ پر وړاندې په خالي لاسونو ځانونه سپر کول او هغوي یې زموږ له خپلې پاکې خاورې وشړل. خو بدبختانه چې تیرې کوونکو پر وړاندې د ملت دغه سترې قربانۍ او ستر پاڅون او احساسات د یو تعداد تنظیمي جنایتکارانو لخوا لوټ شوه. د خپل ځان بخښلو او بویناکه عمومي عفوې په کولو سره یې یو بل په غیږ کې ونیول او ملت یې د پخوانیو ټپونو په لرلو سره یې په یو بل خونکاره ارباب وپلورل. خلک باید پوه شي د جنایت سرلارې چې نن یې لباس بدل کړی او د سولې په نوم د وطن په پلورلو کې ډوب دي، د تیرو جانیانو دوام دی. نو ترڅو چې خلک پروره رژیم د ملت په سرنوشت حاکم نشي او دغه هیټلري قصابان څه ژوندي او څه مړه د محاکمې میز ته کش نشي، د کونډو، یتیمانو اه مو ارام نشي، دا وطن به بیا وطن نشي.







لیکونکی: ژباړونکی | احمر

# د ملالۍ جویا ویل شوې حقایقو خپل ځای یې وموند



«یاد دې پخیر وي ملالۍ جویا» هغه شعار چې پدې ورځو کې په ټولنیزو رسنیو کې بښکته پورته کیږي او د سرک او کوڅو د عامو خلکو تر ژبو رسیدلي. د یادونې وړ خو دا ده چې هغه مهال چې ملالۍ جویا پارلمان ته غوجله او ژوبڼ کلیمه کارولې وه، د مخالفینو او موافقینو سربیره یې هغه خلکو چې ځانونه یې په اصطلاح بیطرفه ښودل هغې ته یې د سختدرځې خطاب کاوه. خو په وروستیو کلنو کې د پارلمان سلګونو خیانتونو سربیره په اوس اوس وخت کې د اصولي او رحماني د پلویانو ترمنځ د ښکر جنګولو او چړو را ایستل د ملالۍ جویا خبرې په اثبات ورسولې. ملالۍ جویا په اړه لدې ټولو د قدر وړ نظریاتو د هیواد وتلي او باضمیره هنرمند ښاغلي مسعود حسن زاده الهام ورکوونکي خبرې دلته رانقلوم:

«تاسې !
همدا تاسې!
کله چې ملالۍ جویا له همدې پارلمانه( نه د سیدني یا برلین یا استکهلم یا لندن د اپارتمانونو) هغه ځای غوجله او ژوبڼ خطاب کړو، ترټولو روښانفکرو مو هغه سختدریځه وبلله، زړه مو خوشحاله شوه چې هغه مو وویسته او په ویرولو مو له لرې وګواښله.
اوس همدا تاسې!
همدا تاسې
ترټولو روښانفکره مو د همدې پارلمان لپاره ترټولو سپک کلیمات کاروئ،

هیڅ پروا یې نکوئ چې د پارلمان دننه د پلویانو ترمنځ د چړو ویستل او منډې د غوجلې او ژوبڼ سره تشبیه کوئ.

ولې داسې شوه؟

ځواب ساده دی چې تاسې سره له خپل ټول تیوریکي ادعاوو مو د حالاتو څخه په هغه شان درک نه درلود کوم چې جویا لرلو او یا مو هم د څرګندولو جرئت نه درلود.

مسله د ملالۍ یا بل چا نده، مسله د سیاستپوهنې نشتون دی.

تل ډېر لږ شمیر خلک شتون لري چې د نورو لپاره لار پرانیزي، خو دا کسان په سر کې ځای نلري، تبلیغ ورته نکیږي او هیڅ یوه رسنۍ هغوي ته لار نه ورکوي.»

د «زنې در میان جنګسالاران» کتاب پوښ چې ملالۍ جویا خپل سیاسي ژوند لیک پکې انځور کړی پدې ځای کې د یاد کتاب ویستلو فصل ځینې برخې چې ملالۍ جویا پخپل قلم لیکلې، رانقلوم چې د پارلمان څخه یې د ویستلو جزیاتو پکې دي:




«یوه ښځه د جګړهمارانو په منځ کې» د کتاب پوښ چې ملالۍ جویا په هغه کې د خپل سیاسي ژوند په اړه لیکلي دي.

« د ۲۰۰۷ م کال په اپریل کې متحده ایالاتو ته مې یو سفر درلود، هلته مې د آریانا افغانستان له تلویزیوني شبکې سره یو ساعته مرکه درلوده چې د سپوږمکۍ له لارې خپریده او په افغانستان کې د لاسرسي وړ وه. د تل په څیر مې د جنګسالارانو پر ضد سختې نیوکې وکړي او د هغې وړاندوینې له مخې چې مې کړې وه که د افغانستان د پارلمان حالات همدا شان او په همدې لار روان اوسي، لرې نده چې خلک به پارلمان ته د غوجلې او ژوبڼ خطاب وکړي. له هغه ځایه چې خپرونه په افغانستان کې خپریده دغې خبر جنګسالاران سخت په غوسه کړل.

کله چې افغانســتان تــه راوګرځیدم د «طلوع» خصوصي تلویزیون له ماســره د ځانګړې مرکې غوښــتونکي شــوه. د مرکې پر مهال کوربه له ما وپوښــتل ولې مو په تیــره مرکه کې پارلمان تــه د غوجلې او ژوبڼ کلیمات وکارول؟ ما په هر اړخیز ډول مسـله روښـانه کړه. په پارلمان کې دوه ډلې اسـتازي لرو یو هم د خلکو رښــتیني اســتازي او بل هم جنګسالاران او جنایتکاران دي، زما خبرې دویمې ډلې ته راجع کیږي.

پــه ۲۰۰۷ کال د مــی په اتمه کې چې کله د طلوع تلویزیون دغه ۳۰ دقیقي مرکه خپروي، په هغه کې ټول هغه سوال او ځواب چې د ژوبڼ په اړه شوي وه پاک کړي وه.

کــه څــه هم د ۲۰۰۷ کال د می په ۱۶ کې د طلوع تلویزیون د یوې بلې خپرونې «زنګ خطر» چلوونکو د مرکې په سانسور شوې برخې تبصره وکړه او په هغه کې یې زما پر وړاندې سپک الفاظ او بدرد وکارول. هغوي د مرکې هغه لنډه سانسور شوې برخه نشر ته وسپارله چې پکې مې ویلي وه "هغې دویمې ډلې ته، چې جنایتکاران او جنګسالاران یاست د ژوبڼ کلیمه کارول مو په حق کې زیاتی دی د څه لپاره؟ ځکه په غوجل کې غوا شــته چې شــیدې ورکوي، خر شــته چې بار وړي، د ســپي پشان وفاداره حیوانات شته خو دوي بناماران دي."

...

پــه ۲۰ د می کال ۲۰۰۷ کې د ولســي جرګې ځینــو غړو د ژوبڼ بحث په عمومي غونډه کې مطرح کړو. یو تن د بنسټپالې شمال ټلوالې ښځینه وکیله د قدریه یزدان پرســت په نوم زما پر ضد اوږدې ســختې خبرې وکړې. سور کارت مې پورته کړو او له ځان څخه د دفاع غوښتونکې شوم. خو ماته د خبرو موقع رانکړل شوه او زیاتره مخالفانو مې د خبرو چانس پیدا کړو، په اخره کې قانوني د ولسي جرګې مشر وویل پدې اړه به د سبا په غونډه کې بحث وکړو او غونډه یې پایته ورسوله.

د هغــې ورځې حالاتو ته په کتو او د جنګســالارانو او جنایتکارانو توندو نیوکو او غبرګونونو ته په کتو پوهه شوم چې زما د ویستلو په لټه کې دي. همدارنګه د خپلو ځینــو همفکــره ملګرو د ډاډګیرنې پیغامونه او تلفونونو له لارې هم له ما وغوښــتل شوه چې سبا پارلمان ته ولاړه نشمه ځکه زما د وهلو ټکولو پلان یې درلود. د ګلهار پــه نوم د پارلمان یوې بلې وکیلــې راته زنګ وواهه چې د یوې بلې وکیلې ترخنګ د تیریــدو پرمهال یې واوریدل چې د ځانمرګي پواســطه به ووژل شــي. لدې امله مې غــوره وګڼلــه پارلمان ته ولاړه نشــمه. کــه تللې هم وای پوهیدم چــې د خبرو کولو وخت به رانکړل شي نو تګ مې بیځایه وه چې د شاوخوا خلکو ژوند مې په خطر کې

واچوم. په ۲۱ د مې د پارلمان ته د تګ پرځای مې په کابل ښار کې رسنيز کنفرانس راوغوښته. چې د قانوني پواسطه زما د وکالت له ځنډېدو وروسته دایريدو.

د هغې ورځې غونډه په تلويزيون او راډيو خپره شوه. د «طلوع» تلويزيون سره زما کړې مرکه يې په ځلونو د تالار دننه خپره کړه. قانوني نور استازي زما پرضد وهڅول ترڅو هغوي زما پر ضد سپک الفاظ وکاروي. جنګسالار محقق ويل چې ما خيانت کړی او بايد محاکمې ته راکش شم. ځينو وکيلانو ټينګار کاوه چې بايد د وکالت ځنډېدو پرځای اخطاريه ورکړل شي. خو په پای کې قانوني وويل چې پارلمان ته د سپکاوي په تور بايد وکالت يې وځنډول شي. قانوني د رای اچونې غوښتونکی شوه او له ټولو وکيلانو وغوښتل شوه چې کارتونه وکاروي سور د رد لپاره او شين د قبول لپاره، که څه هم کومه رسمي شميرنه ترسره نشوه خو ډېريو وکيلانو زما د وکالت په اړه د پنځه کلن ځنډ غوښتنې سره موافقه وکړه. ماته هيڅکله اجازه رانکړل شوه چې له خپل ځان څخه دفاع وکړم. قانوني همدارنګه په خپلو خبرو کې وويل چې زما قضيه يې محکمې ته ليږلې او غوښتنه يې وکړه چې بايد ممنوع الخروج مې اعلان کړي.

...

زما د وکالت ځنډېدو خبر په ټولو ځايونو کې خپور شو. ډېرى مرکې مې ترسره کړې. په هماغه ورځو کې د يو راډيو خبريال زه د ليبرال ګوند د يوې مشرې د او د پارلمان غړې صبرينا ثاقب په نوم چې د قانوني سره يې نږدې اړيکې لرلې، ګردي ميز ته راوبللم. د بحث په لړکې صبرينا وويل چې پارلمان د جومات په څير دی او هر څوک چې پارلمان ته سپکاوی کوي هغه په حقيقت کې د افغانستان ټول مسلمان ملت ته سپکاوی دی.

په ځواب کې مې ورته وويل که پارلمان د جومات حيثيت درلود او ملا امام او مقتيدان يې پدې پوهيده چې په پارلمان کې قاتلان او جنايتکاران شتون لري، په ځانګړې توګه هغوي چې د اسلام له نوم څخه د خپلو کرغېړنو افکارو لپاره له دين څخه ناوړه ګټه اخلي، خلکو به په يوه شيبه کې دا ټول خلک لدې ځايه بيرون کړي واى. خلکو به هيڅکله اجازه نه وه ورکړې چې دا داړونکي او جنګسالاران جومات په خپلو کثيفو څېرو مردار کړي. نن دوي جنايتکارانو د پارلمان اکثريت څوکۍ ګنده کړي دي.

کله چې مرکه پايته ورسيده د راډيو کارکوونکي راغلل او د خپل ملاتړ يې راته وويل. هغوي همدا شان پر صبرينا ثاقب هم نيوکه وکړه چې سربيره پردې چې جويا رښتينې ده بيا يې هم ولې له هغې ملاتړ ونکړ.

هغې يې په خواب کې وويل که په ښکاره توګه د جويا ښخه ملاتړ وکړم په حقيقت کې به دا زما لپاره د ځان وژنې پشان وه او همدا شان د دندې له لاسه ورکول. هغې ته مې وويل: "دا څوکۍ به د ژوند تر پايه دوام ونکړي، پدې اړه فکر وکړه چې له هغې ښخه د بيوزلو په ځانګړې توګه د ښځو په ګټه کار واخلې" له هغې وروسته د راډيو کارکوونکو زما په ګټه د هغې سره بحث پيل کړو. مخکې لدې چې بحث مو پای ته ورسيږي ساتونکو مې په ډيره چابکۍ زه له هغه ځايه وويستمه. موږ ډاريدو چې دښمنان مو په دې هڅه کې دي چې ما ونيسي او ساتونکي مې خلع سلاح کړي. ځکه چې پارلماني مصونيت مې له لاسه ورکړی وه. له هغې شپې تر څو اونيو مې هره شپه خپل د اوسيدو ځای بدلوه، خو د خپلو زياتره پلويانو سره مې په داخل او بهر کې په اړيکه کې وم، دوي زما دندې د ځنډيدو پر وړاندې د لاريون لپاره د چمتوالي ويلې.

...

"د بشری حقونو سازمان زما په دفاع کې تونده اعلاميه خپره کړه. د ددې سازمان آسيايي برخې مشر بريد آيدمز ټينګار کاوه چې جويا د افغان ښځو او بشري حقونو ساتونکي او مدافع ده، او ددې دا ډول څرګندونې نبايد د هغې د دندې ځنډيدو لامل شي او نه هم دا ډول څرګندونې ددې ډول سزا وړ دی"




د ۱۳۹۸ کال د غويي په شپږمه ملالۍ جويا د افغانستان د همبستګۍ ګوند په ملاتړ په فراه کې د غويي اوومې او اتمې تورو ورځو د غندنې په حال کې

وروسته له هغې چې د «جويا ښخه د ملاتړ کميټې» تر نوم لاندې کرزي په ګډون د لوړ پوړو دولتي چارواکو حسابونه زما د داخلي او بهرنيو ملاتړو لخوا د ايميليونو تر څپو لاندې راغلل. بهرنيو ملاتړو مې هم زما د ځنډيدو پر وړاندې غبرګون وښود. په فراه کې مې ملاتړو د څوکۍ د بيرته ترلاسته کولو لپاره لاريون وکړ. د فراه د ولايتي شورا مشر پخپلو خبرو کې وويل د جويا د دندې ځنډيدل هغو

زرګونو تنو ته په ښکاره سپکاوی دی چې جویا ته یې رایه ورکړې.

په کابل او نورو ښارونو کې ورته لاریونونه ترسره شوه. د بغلان په مرکز پلخمري کې ښځو او نارینه زما په ملاتړ لاریون وکړ. په هرات او کنړ کې پولیسو د لاریون کوونکو د امنیتي ستونزو په پلمه لاریون کوونکي لاریون ته پرینښودل. د بلخ پوهنتون زده کړیالانو زما په ملاتړ تونده اعلامیه خپره کړه چې د هیواد په رسنیو کې په ډیرې چټکۍ خپره شوه. د هیواد دننه او بهر لیکوالانو زما په ملاتړ لیکنې وکړې.

هغوي چې په عامه ځایونو کې له ما ملاتړ وکړ په حقیقت کې ستر خطر یې په ځان ومانه. هغوي دا ملاتړ په حقیقت کې پدې دلیل وکړ چې د دندې د ځنډېدو پر وړاندې دریدل په حقیقت کې د خپلو حقونو او حقیقي دیموکراسۍ لپاره ودریدل دي. په خالي لاسونو د میرمنو راولاړیدل ددې ښکارندویه وه چې هغوي نور یوائې نه، بلکې د هیواد د بدلون وړتیا لري.

په جلال اباد کې ښځو او نارینه د ملګرو ملتونو د دفتر مخې ته لاریون وکړ او زما د کرسۍ د بیرته اعادې غوښتنه یې کوله. هغوي ځینې بیرغونه له ځان سره لیږدول او شعارونه یې ورکول. مشري یې هم ښادري لرونکي میرمنو کوله. ددوي لمنځه یو تن میرمن د شبانې په نوم وویل: "جویا نه یوازې د فراه بلکې د ټول افغانستان استازې ده."

لاریونونه له سرحدونه د باندې هم واوښتل. د ۲۰۰۷ کال د جون په ۲۱ کې یوه میاشت وروسته له دندې ځنډېدو ښخه مې په نیویورک، روم،.https://www.
/facebook.com/1560188750911444/posts/2253880784875567/
بارسلونا، میلان، ونکوور او ملبورن کې هم ترسره شوه. د اسپانیا د پارلمان اووه تنه ښځینه غړو د اوو مختلفو ګوندونو په استازولۍ زما د وکالت ځنډېدو په غبرګون کې یو پریکړه لیک خپور کړو. همدا شان د جرمني د پارلمان اتو تنو غړو هم زما د دندې د ځنډېدو په غبرګون کې د افغانستان دولت ته زما په ملاتړ یو لیک واستوه.

...

(په نوم پیل شوی د عدالت غوښتونې سایټ Stopwar.ca) چې د نومیالي لیکوال نوام چوامسکي لخوا د نوامي کلاین په نوم او د کاناډا پارلمان د یو غړي او د جک لایتین په نوم د یو ګوند د مشر او نورو لخوا لاسلیک شوه.

ځینو غوښتنه کوله چې مسله ډیره ساده او اسانه ده. که زه بخښنه وغواړم ټولې ستونزې به حل شي. د نورزیه اتمر په نوم د پارلمان یو تن ښځینه وکیلې د «جګړې او سولې بنسټ» ته وویل که چې: "جویا د افغانستان پر پارلمان برید کړی، که

هغه په رښـتینې توګه د افغان ملت او ښـځو لپاره خدمت کوي، موږ د هغې افکارو او نظریاتو ته احترام لرو. که هغه بخښنه وغواړي کولای شي بیا ځلې خپلې دندې ته دوام ورکړي".

د افغانسـتان د راتلونکي لپاره حـل لاره دا نـده چې د حـق ناره دې پـه آرامـۍ سـره پورتـه شـي. هغـه وخـت کـولای شـو د ملت لـه دیموکـرات قوت څخـه خبرې وکړو چې ټول په یو غـږ، یوځای په ټولو ځایونو کې غږ پورته کړو. ټـول بایـد لکه د زمـري زړه ولرو. دا مې د «اسـپارټاکوس» د فلم د هغې صحنې څخه زده کړل چې له هغوي وغوښـتل شوه چې د اور د لښـکریانو مشر راوښـایي ترڅو له ټولو مخکې د خپل حتمي مرګ ته چمتو شـي. مخکې لدې چې هغه له ځایه پورته شـي، ټـول ملګري یې لـه ځایه پورته کیـږي او په یو غږ ناره کوي «اسپارټاکوس یو»!

پـه هـر ځای کـې چې یـو باید خپل د نیوکې غږ پورته کړو. که دا کار وکړو او د یو ښـه دیموکراتیکې رهبرۍ سـره یوځای شـو، ګامونه بـه مـو داسـې پیاوړي وي چې د بنسـټپاله فاشیزم د دوام لپـاره به ځمکه سـور تنـور وګرځوي. په اوسـمهال کې په لوړو پوسـټونو کې د اکثره مفسدو اشخاصو په شتون کې ترټولو ستونزمنه او پیچلې مبارزه په لار کې لرو. حتا که په لومړیو کې یوه عادي جټکه هم رامنځته کړو، په پای کې به د یوې سترې روښنایۍ سبب شي. لکه څنګه




خو زه به هیڅکله د حقیقت لپاره بخښـنه ونغواړم، ترڅو چې که اړتیا وه د پارلمان ځیني استازي د غوجلې او ژوبـڼ سـره اړه لري. که اړتیا پیښـه شـوه له چا بخښـنه وغـواړم هغه بـه حیوانـات وي. ترڅو چې د یـو تن راپور جوړونکي تـه مې وویل که: "حیواناتو خبرې کولای شوې، هغوي به زه د پارلمانیانو سره د تشبیه کولو له امله محاکمې ته راکش کړې وای". دا خبره مې ډیرو پلویانو هم ویلې وه. هغوي به ویل پډې کار سره لږترلږه ددې داړونکو ګیډه ډکیده. د پارلمـان ځینو غړو د خلکو د قرباني کولو بې اندازه اشـتها درلوده او له خپلو غلاوو، قتل او د پیسـو له پټولو نه سترې کیدل.

چې برتولیت وايي: "هغوي چې مبارزه کوي ښــايي ماتــه وخوري، خو هغوي چې مبارزه نه کوي له مخکې ماته خوړلې ده"




# حاکم او محکوم!

کارتونیست: William Balfour-Ker



لیکونکی: بهار

# ادانیا فرناندز، هغه ښځه چې ژوند یې د خپلو خلکو لپاره قرباني کړ



ادانیا فرناندز Idania Fernandez (۱۹۵۲ د جولای ۲۳ ـــ ۱۹۷۹ د اپریل ۱۶) د نیکارګوائه لـه اتلو ښـځو څخـه وه چې شـخصي ژوند یې پریښـود او د خپلو خلکو آزادۍ لپـاره یـې ژونـد د لاسـه ورکړ. نوموړې هغه وخت د «ساندنیسـتانو»، د نیواک او د «سموزا» دولت دیکتاتورۍ ضد غورځنګ سره یو ځای شـوه چې خپل ماشوم یې نوی زیږولی وو. هغـې د خپـل ځان نیول کیدلـو او وژل کیدلو تر ورځ پورې یوه آزادۍغوښـتونکې چریکه پاتې شوه او د خپل هیواد د ښځو میړانې په سمبول باندې بدله شوه.

ادانیـا د نیکاراګوائه په پایتخت، ماناګوا کې په یوه منځنۍ کورنۍ کې وزیږیدله. د لیسـې پـه دوره کې د یـو فعاله زده‌کونکې په ډول، د مبـارزې په لاره کې لومړنۍ ګامونه پورته کړل. هغې د ښـوونځي د پاځون کونکو زده‌کونکو ډلې مشري په خپله غاړه واخیسـتله چې له نورو سـازمانو سره یوځای د سیاسي زندانیانو خوشې کیدلو لپـاره یـې ډولا ډول لاریونونـه پـه لاره اچولې وو. په ۱۹۷۳ کال کې د ښـوونځې د بشـپړولو څخه وروسـته د خپلې کورنۍ سـره پاناما ته کډوال شـوه او په هغه ځای کـې یې اقتصاد ولوسـت. پـه پاناما کې بیا ځلـې د «ساندنیسـت زندانیانو څخه د دفاع کمیټې» سـره یوځاي شـوه او په نویو سیاسـي کړنو یې پیل وکړ تر څو چې د «ساندنیسـت ملی خپلواکۍ غوښـتونکې جبهې» غړې او چریکه شـوه. نوموړې د مبارزاتـی ژونـد په لړ کې خپل ټول ځواک خپلې لارې ته وقف کړ او خپله شـخصي شـتمنې او چوپړتیاوې یې د خپلو همسـنګرو په چوپړ کې پریښودلې. ادانیا په کوبا کـې نظامی تمرینونه ولیدل او په ډیـرى نظامی عملیاتو کې یې ګډون کړی دی. د

۱۹۷۸ په سپتامبر د نیکاراګوئه په سویلي پوله کې د جګړې پر مهال په کینې لاس ټپي شوه.



په داسې حال کې چې ادانیا په یوه جګړه کې ټپي شوي وه.

د ځو خپل سرو ولسي پاڅونونو څخه وروسته، ساندنیستانو نوی استراتیژی تر خپل لاس لاندې ونیوله، هغوي د ولسیزو مبارزاتو چټکتیا او مرستې لپاره، پنځه بریدګرې قطعې د نیکاراګوئه په مختلفو سیمو کې ځای پر ځای کړې، ادانیا د لیون ښار د لویدیځې قطعې له کلیدی رهبرانو څخه وه. په ۱۹۷۹ کال کې په ټوله نیکاراګوئه کې جګړه ګړندۍ شوه، البته د ساندنیستانو بریدګرو قطعاتو د جګړې مشرې کوله. د ۱۹۷۹ په اپریل کې، د لیون ښار لویدیځې قطعې یوه پټه غونډه د مهماتو رسولو او د جنګ همغږۍ کولو په موخه ترسره کړه، غونډه د یو خاین له خوا دښمن ته بربنډه شوي وه په غونډه باندې د «ملی ګارد» په یرغل کې د ادانیا په ګډون د قطعې اته غړی ونیول او ووژل شو. د ادانیا مرګ څخه وروسته، د لودیځې قطعې مسوولیت د ادانیا ښځینه ملګرو څخه یوې ته ورکړل شوه چې د هغې تر مشرتابه لاندې د ښار په واکمنۍ باندې بریالۍ شول. تر هغه دمه چې ۱۹۷۹ په جون کې، د ساندنیست مبارزانو د سموزا زلنده رژیم نسکور کړ او سیاسي واک یې تر لاسه کړ.

هغه څه چې باید افغانې مبارزې ښځې یې له ادانیا څخه زده کړی هغه دا دي چې نوموړی سره له دې چې د خپلې کورنۍ او مېړه په اپوټه خپله دوه کلنه لور کلاودیا یې خپلې مور او پلار ته وسپارله تر څو وکولې شي خپلې جګړې او کار ته په ښه توګه رسیدنه وکړي. هغه پوهیدله چې کیدای شي نور هیڅکله خپله لور ونه ویني خو دی موضوع د خپل هیواد تر ټول بې‌برخو انسانانو حق څخه دفاع کولو پرتله د یوی شیبې لپاره یې هم هغه نه ده لړزولې. هغې د مورولی په مینه بریا تر

لاسه کړه تر څو وکولې شي د خپل هیواد زرګونه ماشومان چې د ناتارۍ لاندي دي د کړاونو او مریتوب له جغ څخه وژغوري. هغه د سترو ژمنو او انقلابې ښځو له ډلې څخه وه چې شخصي ګټې او آن تر دی چې د خپل زړه ټوټه یې د ویاړه ډکه لاره کې چې په آګاهانه توګه یې پر مخ وړه قربانه کړه.


Caen seis del FSLN en León!

Alarma de los médicos y citan para asamblea

EDITORIAL

d سموزا رژیم ورځپاڼو د ادانیا او د هغې د ملګرو د مرګ خبر په بشپړ ویاړ سره په لومړیو پاڼو کې خپور کړ خو نه پوهیدل چې د هغوی میړني مرګ د بریالیتوب تخم کرلې وو.

ساندنیستان هغه انقلابیون وو چې د اوګستو سزار ساندینو، د هغه هیواد یو نامتو انقلابی، نیواک ضد مبارزانو څخه په الهام اخیستلو سره، د یو کیڼ اړخې او نیواک‌ضد غورځنګ په توګه په ۱۹۶۱ کال کې رامنځته شو او د سموزا رژیم په وړاندې یې وسلواله مبارزه پر مخ وړله. واک ته د رسیدلو څخه وروسته، د بیخ‌بناګانو جوړولو تر څنګ، د ساندنیستانو دولت اړینو دندو څخه یوه یې د نیکاراګوئه خلکو د پوهې کچې لوړول وو چې د پراخه کړنلارو او د هیواد لرو پرتو سیمو ته، د ښوونکو او تعلیمی کادرنو په لیږدولو سره یې وکولې شو چې د ناپوهۍ کچې له ٪۵۰ څخه ٪۱۲ ته راښکته کړي. دغه بریا د یونیسکو سازمان له خوا څخه وستایل شوه او د نادژدا کروپسکایا د سوادزده‌کړې نړیوالې ډالې یې د ساندنیست نوې رامنځته شوی دولت ته ورکړ. (د نیکاراګوئه تاریخچه په اړوند د «نیکاراګوئه، هغه ملت چې د امریکا په لاس ربړول شوی» مقاله ته چې مخکې د همبستګې ګوند په سایټ کې خپره شوې وه لیدنه وکړي).

د نیکاراګوئه خلک نن ورځ هم ادانیا د یوی انقلابي او اتلې ښځې په توګه پیژني او په پراخه پیمانه لیکنې د هغې په اړوند لیکل شوي دي او د خپل هیواد په مختلفو

سیمو کې عامه ځایونه لکه سړک، ښوونځې او... د هغې په نوم نومول شوي دي.

------

ادانیا د خپل مرګ څخه دوه میاشتې وړاندې یو اغیزمن لیک خپلې لور کلاودیا (د خپل یو ساندنیست ملګری نوم یې پر هغې ایښــودی وو) ته لیکلې وو چې هغه مو پښتو ته ژباړلې او د همبستګې ګوند سایټ لوستونکو ته وړاندې کوو:

# «مور هغه څوک ده چې د ټولو ماشومانو درد او رنځ احساس کړی»




خپلې ګرانې لور ته،

دا یــوه ډېره حساســه دوره د خلکــو لپاره پــه ټولو ځایونو کې ده، نن ورځ په نیکاراګوئه او وروســته د لاتینــې امریــکا په ټولــو هیوادونو او ټوله نړۍ کې، زموږ پوهاوی او شعور دا غوښــتنه کوي چــې د ځانګړو کســانو پــه ډول عمــل وکړو، انقلاب د هر شــي غوښتونکی دی چې موږ ټول یې باید هغه تــه ورکړو، تر څو پــه هر ډول شــونی کچه دغه بهیــر ته ګټور پریوځو.

زه امیدواره یم هغه ورځ چې لرې نه ده، ته وکولې شي هغه ډول چې ټولو انسانانو ته وړ ده، په یو خپلواکه ټولنه کې لویه شې او ژوند وکړې، هغه ځای چې ټول خلک له یو بل ســره خور او ورور دي، نه دښــمنان. زه په هوســاینې سره وکولی شم ستا لاسونه ونیسم او له تا سره چکر ووهم، له واټونو څخه تیر شو تر څو د ټولو موسکا، ماشومانو خندا، پارکونه او سیندونه ووینو. او موږ، پخپله، د هغه خلکو لیدلو پر مهال چې د یو ښــاد ماشــوم په څیر وده کړي په عصری انسانانو باندې بدلیږی چې په ټولو ځایونو کې د انسانانو په وړاندې

د خپل مسولیت څخه خبر دي، ښه هوساینې سره موسکا وکړو.

ته باید د خپلواکۍ او سولې جنت په ارزښت چې له هغې څخه به خوند واخلې، پوهه شې. زه دا د دی لپاره وایم ځکه چې زموږ میرانو خلکو په بشپړ پوهاوي او د خپلو خلکو سره ژوری مینې له کبله خپلې ارزښتمنې وینې، د خپلواکۍ او سولې لپاره، د راتلونکي نسلونو لپاره او ستا په شان ماشومانو لپاره قربان کړي دي. خپل ځانونه ډال کړل تر څو ماشومان د دغه ټولو ناتارۍ، سپکاوي او بدمرغیو لاندي ژوند ونه کړي، او په هماغه ډول چې نن ورځ زموږ د ښایسته نیکاراګوئه سړو، ښځو او ماشومانو هغه زغملې دي.

زه دا د دی لپاره وایم چې کیداشي زه خپله له تا سره خبری ونه شم کړي او یا به بل هیڅ څوک دا شیان تا ته ونه وایي. مور هغه څوک نه ده چې یوازې بچې راوړي او ساتنه یې وکړي؛ مور هغه څوک ده چې د ټولو ماشومانو درد او رنځ په دی اند چې د خپل رحم څخه یې زیږولي دي، احساس کوي. زما لویه هیله دا ده چې یوه ورځ به ته د بشریت سره د لویې مینې لرونکې ښځې باندې بدله شي. او دا چې پوهه شې څه ډول د عدالت څخه د هغه شیانو او کسانو په وړاندي چې هغه د خپو لاندې کوي پوښتنه وکړې.

په دا ډول انسان باندي بدلیدلو لپاره، زموږ د انقلاب او نورو هیوادونو انقلابونو سترو مشرانو آثار مطالعه او غوره مثالونه یې بیلګه وګڼه او په عمل کې پیاده کړه تر څو همیشه پرمختګ وکړې. زه پوهیږم چې ته دا کار کوي او هغه ترسره کولې شې او دا ما ته لویه هوساینه را په برخه کوي.

زه نه غواړم چې بی معنا جملې، ژمنې او اخلاقیات تا ته پریږدم. زه غواړم چې د خپل ژوند (له دې سره چې پوهیږم دا مهال ښه نه ده) او ټولو ساندانیست خویندو او ورونو د ژوند کولو طریقو سپارښتنه وکړم. پوهیږم چې د هغې څخه ګټه پورته کول به زده‌کړې.

ښه، زما نازولې، که چیری نیکمرغه وم چې بیائلې تا ووینم، چې کیدای شي چانس یې وي موږ به د ژوند انقلاب په اړوند اوږده بحثونه ولرو، موږ به هڅه وکړو تر څو هغه دندې چې موږ ته سپارل شوي دي پای ته ورسو. موږ به په ګډه سره ګیتار غږو او سندرې به ووایو. د دی ټولو په وسیله، به یو بل په ښه توګه وپیژنو او له یو بل څخه به زده‌کړه وکړو.

**بیا، چهره زیبایت را برایم نشان ده**
**قشنگ مثل گل‌ها و آزادی**
**و به من در مبارزه قوت ده**

**با ترکیبی از خنده تو و واقعیت ما**
**روزانه به تو فکر می‌کنم**
**همیشه در تصور اینکه چگونه هستی**
**همیشه مردم ما و بشریت را دوست بدار**
**با تمام عشق مادرت، ادانیا.**

**تا پیروزی ما، برای همیشه.**
**وطن آزاد یا مرگ!**



## ترامپي سوله!

کارتونیست: Luc Descheemaeker



لیکونکی: سعید

# د نیواکګرو او لاسپوڅي رژیم په واکمنۍ کې طبیعي بلاووې ناورین ګرځي!



په هغه هیواد کې چې مفسد انسان‌وژونکي واکمنان او بهرنیو اربابانو یې د خپلو خاینانه سیاستونو سره زموږ ولس د ملا ماتوونکي بېوزلۍ سره مخ کړی، د طبیعت قهر د نورو زرګونو ستونزو برسیره ناورینونه زیږوي. که څه هم اکثره خلک مو په ځانګړې توګه بزګران مو سږني ډېرو ورښتوونو او واورو ته خوشاله ول او د یوه حاصلخیزه کال په توګه یې ګڼلو، خو بیا هم په ځینو سیمو کې د سیلاب لرونکو ورښتونو وریدلو یې کورونه او هرڅه لمنځه یوړل او یو ځل بیا یې د غم په تغر کینول.

د ۱۳۹۷ کال د کب په لسمه په کندهار، زابل، هلمند، نیمروز او فراه ولایتونو کې د ډېرو ورښتونو له امله خورا زیات سیلابونه راووتل چې لسګونه کورونه یې لاندې او ډېر زیات مالي او ځاني زیانونه یې واړول.

د بېلګې په توګه د دغو سیلابونو ورانیو ته چې په فراه کې یې رامنځته کړل یوه کتنه لرو.

د کب په یوولسمه سهار مهال کله چې د فراه ښار او کلیو اوسیدونکي له کورونو د باندې وځي د یوه بیساري سیلاب سره مخ کیږي. سیلاب د فراه رود له سیمې پیل او د لومړی، دوهمې، دریمې او د ښار مرکزي سیمو په ګډون د سرجنګل، شیوان، کنسک، شمالګاه، دهک، سور، چهاربرجک، قلعه غلام صدیق، کرجي، شیخ اباد، عسکر اباد، سنګزور، شوراباد، یزده، چهارباغ او نورو سیمو دوکانونه او کورونه چې دسیند دواړو خواوو ته پراته دي وران ویجاړ کړل. پدې لړ کې لسګونه تنه چې ښځې او ماشومان هم پکې شاملې دي، ټپیان او ورک شوي دي. دغه

سیلاب د ځاني زیانونو سربیره ډېره زیاته اندازه مالي زیانونه د فراه بیوزله ولس ته واړول، چې زرګونه هکتاره کرنیزې ځمکې، سلګونه ګلخانې شنې خونې، سل ګونه غواګانې او پسونه یې له منځه ویوړل.

یاد شوي زیانونه یواځې تر ښاره محدود پاتې نشوه، تردې چې د انارډرې او قلعه کاه په ولسوالیو کې هم ډېر زیات زیانونه واړول. په میلیونونو افغانۍ زیان خلک واوښت. د انارډرې ولسوالۍ بازار چې د سیند تر غاړې جوړ شوی دی، ټول دوکانونه یې په سیلاب کې ویجاړ، او ټول وسایل یې سیلاب له ځان سره یوړل. د زهکن، سدکهانو او ازاد کلي ټول ویجاړ شوه او د کلیوالو ختېن کورونه پر هغوی راکیوتل. د قلعه کاه په ولسوالۍ کې هم د اور او انجیران کلي په مکمله توګه ویجاړ شوه او خلکو ته سخت مالي او ځاني زیانونه واوښتل.

د فراه فاسد چارواکي د «سیلاب ځپلوسره د مرستو» په نوم د نندار یز حرکاتو په ترڅ کې د خلکو په ټپونو مالګې اچوي. سیلاب ځپلو له کابله راغلی هئیات لخوا پنځلس میلیونه افغانۍ د خپل ځان لپاره توهین وګڼلو. بلقیس روښن د فراه د خلکو با وجدانه وکیله چې تل یې د مظلومانو غږ اوچت کړی، پر مرکزي حکومت د سختې نیوکې په ترڅ کې د مرکزي حکومت لخوا فراهي سیلاب ځپلي ولس ته د نه پاملرنې له امله غوسه ده او د ع او غ لاسپوڅي حکومت د خیانت او فساد یوه بله بیلګه افشاء کړه.

په فراه کې وروستیو سیلابونو په ډاګه کړه چې دغه لاسپوڅي واکمنان نه دا چې د بې وزلو خلکو غږ ته لبیک نه وایي، بلکې پر فساد بانډې دوامداره ککړوالی یې د طبیعي پیښو د مصیبتوالي او سخت والي لامل ګرځیدلی چې زموږ هیوادوال یې د غم په تغر کېنول.

















لیکونکی: رشاد

# په ننګرهار ښار کې د زیارکښانو ژوند څخه احوال




ننګرهار ښار چې د ګڼ نفوس درلودونکې دی، میشت اوسیدونکې یې له ګڼ شمیر ستونزو او کړاونو سره مخ او د دولتي او غیر دولتي مافیا په پنجو کې ښکیل دي او ډیری اوسیدونکی بې‌روزګاره دي، او دغه شمیره د پرمختګ په حال کې ده، او ورځ تربلې د خلکو د ژوند سطحه د ټیټیدلو په حال کې ده، چې بیکاری د ټولو ستونزو ژړه ده.

د بیکاری له امله ډیر ځوانان یا له اردو سره یو ځای کیږی او یا له طالبانو او داعشو سره چې د فارمې چورګړو په څیر قربانې کیږي. اوسنی او پخواني نظام د دې سونزې له منځه وړلو لپاره کومه معلومه تګلاره نه لرله او نه یې لري او په قصدي توګه د بیکارانو دغه لښکر ته د کار زمینه نه برابرویددې په خاطر که چیری بې‌کاري له منځه لاړه شې نو د جګړی میدان به څوک تود وساتې؟

په دی هیواد کې هر څه په ظاهره یوازې خپل رنګ بدلوی خو زیارکښان په واټونو کې د ډیر انتظار له امله په بې‌ساه او بې‌روحه رباتونو اوختی ورځ لا څه چې د شپې هم د کار په انتظار خوب په ویښه کوي. یو تن د زیارکښانو څخه چې صاحب نومیږی او د کونړ ولایت څخه دی د خپل روزګار په اړوند داسی څرګندونه کوی:

«ټول افغانستان خوارو زار دی کار او روزګار نشته زه ګیلکار یم دا مې اوومه اتمه ورځ ده چې کار په سی راوتی یم خو څوک نه پیدا کیږی چې کار ورسره وکړم هر سهار ۳ بجې دي چوک ته راځم او تر مازیګره مابنام پوری

دې چوک کې د کار پیدا کول لپاره انتظار اوباسم خو کار نه وي ماښـام چې کور ته لاړ شـم بچیان مې لاسـونو ته ګوري چې پلار به موه څه راوړي وي خو په لیدلو مې مایوسه کیږی. نورو ته چې ګورم د خپلو ماشومانو غوښتنې پوره کوي خو زه یی نه شـم دخپلو ماشـومانو په لیدلو سره مې له ځانه زړه توریږی، ځینې وخت وایم چې دا هر څه په حلالو پیسـو دا شـونې نه ده که وی نو موږ به هم د خپلو ماشـومانو غوښـتنی پوره کړی وې او څوک چې دا کار ترسـره کوی حتما لاسونه یی زموږ په وینو سره دي.



صاحب

تعلیم می ډیر خوښـیږی خو د بیوسـی له امله مې ماشومان د تعلیم څخه بې برخې دي. کشـری ورور مې په هلمند کې عسکر دی خدای خبر چې هغه به په څه حال کې وي، پلار مې هم د شـکر په رنځ اخته دی، په ننګرهار کې خپله ځمکه نه لرم او په کرایی کور کې اوسیږم، ټول ژوند مې له ستونزو څخه ډک دی. پورونـه ورځ پـه ورځ لاپسـی ډیریږی د دکاندارانـو ۶۰۰۰۰ روپی پـوروړی یـم، دولت څخه کومه ځانګړی تمه نه لرم ځکه چې دا هر څه د دوی په لاس کې دي خو خپل غوږ نه ګروی دا ځکه چې په دی حالت کې د هغوی ګټې خوندی دي.»

بـاز محمد چـې د لغمان ولایت څخه د کار میندلو لپاره ننګرهار ښـار ته راغلې داسې وایي:

«موږ له لغمان څخه د کار موندلو لپاره ننګرهار ته راځو خو په اونیو اونیو دلتـه کار موندلـو لپاره په تمه پاتی کیږو کله چې پیسـی وي یو څه وخورو او په هوټل کې شپه کوو چې پیسی نه وي یوازی په اوبو ګوزاره کوو. هر ورځ د ګهیځ له ۴ څخه تر ماښـام ۷ بجو پورې په تمه یو چې یو څوک به مو کار ته بوزی کله چې څوک موږ کار ته بوزی د ۸ ساعته کار په ځای ۱۰ ساعته کار

را باندې کوي. په اتمه نهمه ورځ کار پیدا کیږي بل کوم روزګار مې هم یاد نه دی چې وی کړم نن سهار مې یوه وچه ډوډۍ وخوړه ځکه چې د چای پیسې را سره نه پوره کیدلې. پرون یو کس پیدا شو چې ما کار ته بوزي ما ورسره په ۸۰۰ روپو د مزدورۍ خبره کوله یو بل کاریګر راغی او ویویل چې زه در سره په ۵۰۰ روپې ځم ما ته یې وویل چې زه ډیر مجبوره یم ما پریږده چې زه ورسره لاړشم ما وویل زه چې ستا ستونزه حل شی زموږ دې خدای مل شي! خپل زوی مې ایران د کار کولو لپاره لیږلی دی او د زدکړې مې په هغه باندې په یولسم ټولګې کې پریښودلی ځکه چې په دې روپو باندې کور نه چلیږي.»



باز محمد

په داسې حال کې چې په ننګرهار کې د یو ګیلکار ورځیانې ۱۰۰۰ څخه تر ۱۲۰۰ کلدارې ده خو دا چې د کاریګرو شمیر ډیر دی او کار هم لږ دی نو دی څخه په استفادې سره خلک دوی په ۵۰۰ یا ۳۰۰ کلدارو کار ته بیای او یو استاذ ته د کاریګر مزد ورکوي او دهغوی له مجبوریت څخه ناوړه ګټه پورته کوی. له دې سربیره د دوی له مزدورۍ څخه یوه اندازه پیسې د ټیکدرانو له خوا په بډه وهل کیږي. دغه ځاي ته هره ورځ په لسګونه کاریګر کار موندلو لپاره راځې خو په ۱۰۰ کې ۱۰ کار مومی او پاتې نور بیرته خپلو کورونو ته تش لاسونه ورګرځې. دا ډیره خواشینونکې ده افغانستان چې ۹۰ سلنه ویجاړ دی بیا هم زموږ کاریګر وزګار ګرځی که چیرې یو صحیح سیستم په کار واچول شی نو د بیکارۍ سونزی به حل شي.

لعل محمد چې د ننګرهار سرخرودو ولسوالې اوسیدونکې دی داسی وایي:



لعل‌محمد

«زه هر سهار دلته راځم چې یوه مړی ډوډۍ خپلو اولادنو ته برابره کړم کله کار وی او کله نه وی پخوا حالت ښه وو په دې روپو مو یو څه چاره کیدله خو نن د

هر څه نرخ اوچت دی په لس روپی یو رومی کیړی د اوړو بیه ۲۶۰۰ کلدارې ده. کله د تورخم لاره بنده وی او کله د ایران، چاروا‌کي د خپلو ګټو لپاره زموږ ګټې په پام کې نه نیسي. یو ورور مې په ارزګان کې سرباز وو هغه د ماین په چاودنه کې خپل ژوند د لاس ورکړ او د هغه اولادونو او ښځې ساتنه هم زما په غاړه ده. مخکې به مو یوه یوه ډوډۍ خوړه اوس هغه هم نیمایی کوم. د «فلمي کالتوس»(عبدالله عبدالله) او «خانم‌جانې»(اشرف غنی) څخه کومه تمه نه لرم یوازینې حل لاره دا ده چې موږ ټول کاریګر، بزګران، کسبګر او مالداران سره یو شو او د موجوده سیستم او ناغیړیو په وړاند سره په ګډه نه ستړی کیدونکې کلکې مبارزی لاس پوری کړو تر څو. به د بل په تمه یو.»








لیکونکی: نوید نابدل

# «د یرېږ لومه- د افغانستان نا ویل شوې کیسه»، آی‌ایس‌آی ته د تنظیمي اخوانیانو د مریتوب لاسوند




««د یرېږ لومه- د افغانستان نا ویل شــوې کیسه» د هغه کتاب نوم دی چې د ډګروال محمــد یوســف او امریکایي مــارک ادین لخــوا په ۱۹۹۲ م کلنو کې خپور شــوه. دغه کتاب د پیښــور د اووه ګونو تنظیمونو د مشرانو د مریتوب نه انکاریدونکی سند دی. تر اوسه هیڅ یوه جهادي ددې جرئــت ونشــوه کړای ترڅــو دغه کتاب رد کړي. ځکه هغــوی پوهیږي چې د یوه کوچني غبرګون په ښودلو سره یې د نورو سترو پټو اسنادو د رابرسیره کولو په ســبب نور هم مخ‌توري کیږي. یوسف د لومړي ځل لپاره په علني ډول ښکاره کړه چې د (آی‌ایس‌آی ټیمونو په منظم او تکراري ډول ســره د مجاهدینو ســره یوځای افغانســتان ته لیږل کیدل) ټول کتاب په داســې جملو لیکل شــوی دی چې عملاً ښــایي دا آی‌ایس‌آی وه چې د جهادي رهبرانو رســۍ یې په لاس کې نیولې وه او د جګړې رهبري یې کوله. پدې کتاب کې دا په ډاګه کولای شو چې پاکستان د خپلو کرغیړنــو اخواني ګوندونــو له لارې له لومړۍ ورځې څخه پــدې هڅه کې وه چې د شــوروي پر ضد د افغان ولس مقاومت له خپل اصلي مســیر څخه منحرف کړي او زموږ د هیواد د بربادۍ لپاره ترې ګټه واخلي.

«د یرېږ لومه» کتاب دوه ځلي فارســي ته ژباړل او خپور شــوی دی. چې ما د ښاغلي محمد قاسم آسمایي له ژباړل شوې لیکنې څخه ګټه اخیستې ده.

لیکوال د کتاب په سریزې کې ځان داسې معرفي کوي:

«په آی‌ایس‌آی کې زما دنده د افغانستان د جګړې سوق او رهبري وه. دغې

اداري په افغانستان کې د جګړې د پرمخ بیولو دنده درلوده. ما نه یوازې د مجاهدینو د روزولو او مسلح کولو دنده درلوده بلکې اړ وم چې د افغانستان دننه د هغوی عملیاتي پلانونه هم رهبري کړم»



ډګروال محمد یوسف آی‌ایس‌آی د تنظیمي قومندانانو سره یوځای د عملیاتي پلان د جوړولو په حال کې

د کتاب ځینې برخې د آی‌ایس‌آی د سلاکارانو په مستقیمې لارښوونې پر کابل ښار د تنظیمونو ورانکاور فعالیتونو ته ځانګړې شوې دي. چې ما یې د دغو جنایتونو ځینې برخې د نوي نسل د زیاتې پوهیدنې لپاره چې د اخوانیانو د غلامۍ او افتونو څخه بې خبره دي راټولې کړې دي.




ویلیام کسي(د سی آی‌ای مشر)، جنرال اختر(د آی‌ایس آی مشر) او ډګروال یوسف په پیښور کې د مجاهدینو د یوه یوځي مرکز څخه د لیدنې په حال کې

لیکوال د آی‌ایس‌آی مشر جنرال عبدالرحمن اختر د شوروي پر ضد د افغانستان د جګړې د اصلي پلانوونکي او مبتکر په توګه بولي او هغه ستایي. جنرال اختر اته کاله د جنرال ضیاء الحق په مشرۍ د آی‌ایس‌آی ریاست په غاړه درلوده. د جنرال یوسف په خبره جنرال اختر د کابل ورانولو سره یو ډول خاصه لیونۍ مینه درلوده او (کابل باید وسوځیږي) یې شعار وه. که څه هم جنرال اختر په ۱۷ اګست ۱۹۸۸ م کال په یوه هوایي پیښه کې د جنرال ضیاء سره یو ځای وسوځیده. خو افغاني نوکرانو یې د اتم د ثور تورې ورځې څخه وروسته د خپلو پاکستاني اربابانو دغه خوب د کابل په ورانولو او سوځولو عملي کړو.

که نن طالبان د آی‌ایس‌آی په ملاتړ د خپلو پلانونو په ترسره کولو هره ورځ د کابل ښاریان د غم په ټغر کینوي، همدا شان د سیاف، رباني، قانوني، عبدالله، بسم الله، عبدالحق، فهیم، ګلبدین،.... په شان جهادیانو هغه مهال د آی‌ایس‌آی

په لارښوونه دغه شان جنایتکارانه اعمال تر سره کړل چې اصلي قربانیان یې د کابل بېدفاع خلک ول. جنرال یوسف پر کابل د راکټ توغولو او د ورانکارو کړنو د پردې ترشا رازونـه او په هغوی کې د آیایسآی د سـلاکارانو او د هغـوی د جیره خواره قوماندانانو رازونه بیانوي.



ډگروال یوسف د خپلو څو تنو افغاني نوکرانو سـره چې په هغوی کې گلبدین او سـیاف یې د خاصو مریدانو له ډلې گڼل کیده.

د کتاب د دغه څېرکي ځینې برخې:

کابل ښار د جنرال اختر د ستراتیژۍ لومړنی او اساسي موخه وه. خو هغه نه غوښـتل چې دا هر څه په یو یرغل لاسـته راوړي؛ بلکې د هغه وروسـتۍ موخه دا وه چې د کابل ښار ټول شته لکه سیاسي، ټولنیز، پوځي او اقتصادي برخې له منځه یوسي. د هغه شعار دا وه چې (کابل باید وسوزي) باید د هغه ټولې اړیکه نیونکې او اکمالاتي لارې وتړل شـي او تل د فشـار لاندې اوسي. هغه پدې پوهیده چې پدې ډول سره کولای شي چې ښار پرته له مقاومت اوپه ډیرې اسـانۍ سـره ونیسي. د هغه تر ټولو سـتره هیله دا وه چې د کابل ښار له ورانولو او سـقوط وروسـته له هغه ځایه لیدنه وکړي او د شـکرانۍ لمونځ ادا کړي کومه هیله یې چې هیڅکله پوره نشوه.

...

د کابل د سوځولو لپاره زموږ ستراتیژي په دریو برخو ویشل شوې وه چې په لومړۍ برخه کې د کابل د اکمالاتي لارو د تړلو او ښار ته د موادو د رسیدو مخنیـوی کولو لپاره د ټولو پلانونو په همغږي کولو وه چې ددې موخې لپاره د

**د ښــلو اوبــو د نلونو په لمنځــه وړلو، د اوبو بندونــو پــه الوځلو، د برښــنا لینونو پــه قطع کولو او بریښــنا شبکې لمنځــه وړل زمــوږ اساسي موخې وي.**

کابل پــه لاره کې پر اکمالاتي کاروانونو د کمین نیولو، د ښــلو اوبو د نلونو په لمنځه وړلـو، د اوبو بندونو په الوځلو، د برښــنا لینونو په قطع کولو او بریښنا شــبکې لمنځــه وړل زمــوږ اساســي موخــې وي. په دویمه برخه کې له دننه د خرابکارانه او تخریبي کړنو پواســطه ګــډوډي رامنځته کــول وه...... له هغه ډلــې څخه پــه ۱۹۸۳ م کال کې زموږ لخــوا د کابل پوهنتون په خوړنځي کې د بم ایښــودل او په بریالیتوب ســره یې الوځل وه. چې په پایله کې نهه تنه د شــوروي خلک چې یوه ښــځینه پروفیسوره هم پکې وه ووژل شوه. ښوونځي، تعلیمــي او تحصیلي موسســې زموږ د موخو لپاره اســانه موخې وي. ځکه د هغوی کارکوونکي کمونیستان او د دګم مارکسیستي افکار به یې زده کوونکو تــه تبلیغــول، کوم څه چې د مجاهدینو په اند د اســلام څخه د ځوانانو د لرې کیدو سبب کیده....

**د پلان دریمــه برخه پر کابل ښــار د شــاواخوا ســیمو څخــه د راکټونو توغــول وه چــې تل به یې دوام درلوده.**

د پلان دریمه برخه پر کابل ښــار د شــاواخوا سیمو څخه د راکټونو توغول وه چې تل به یــې دوام درلوده. څرنګه چــې لس زره راکټونو زمــوږ د پلان له مخې پر کابل ښــار او شــاوخوا سیمو وتوغــول شــوه. دغه حملــې د ژمې له ځینو ورځو پرته نــور تل دوامداره وي او هیڅکله ونه درول شوې. کابل لوی ښــار وه او د راکټونو په دقیقه توګه هدف ته رســیدل ناممکن وه، نو په همدې دلیل موږ دا نشــو ردولی چې د راکټونو د لګیدو له امله به بیګناه خلک او د مجاهدینو پلویان نه وي وژل شــوي. داسې پیښې ډیرې واقعې شوي دي خو دا هر څه موږ په قصدي توګه ندي ترسره کړي، ځکه اوسني جنګونه د ملکي مرګ ژوبلې څخه پرته ناممکنه دي. که موږ د ملکي خلکو د وژلو له ویرې پر کابل ښــار د راکټونو له توغولو په شــا شــوي وای، دا به زموږ د شا تګ او د اصلي ستراتیژۍ خلاف وه.

قومندان عبدالحق چې پر کابل ښار د راکټونو په توغولو کې عمده رول درلود، د ملکي خلکو د وژلو په اړه د «جګړه په افغانستان کې» کتاب له لیکوال مارک اوربان سره د يوې مرکې په ترڅ کې داسې وايي: «د هغوی(مجاهدينو) موخه ملکيان نه وه... خو که چيرې پر هغوی زموږ کومه ضربه واردېدله، زما لپاره يې کوم ارزښت نه درلوده. حتی که چيرې زما خپله کورنۍ هم د شوروي سفارت تر څنګ اوسېدې، زه هغه سيمه د يرغل لاندې نيسم. که چيرې زه د مرګ لپاره تيار يم، پرېږدئ چې زما کورنۍ او اولادونه هم مرګ ته تيار اوسي.

....

زه تل ددې ليواله وم ترڅو کابل ښار د ورځې لخوا هم د راکټي يرغل لاندې ونيسو، خو تر ۱۹۸۶ م کال پورې موږ ددغه ډول عملياتو توان نه درلوده.

....

ترټولو زيات پاکستاني سلاکاران پر کابل ښار د عملياتي پلان لپاره ګمارل شوي وه.

جنرال اختر پر کابل ښار د يرغل لپاره يو ډول خاص جنون درلود. هغه تل پر کابل ښار د نورو سيمو په پرتله د يرغل لپاره ډير تاکيد کاوه. هر کله به چې کوم قومندان پر کابل ښار د يرغل او ورانۍ لپاره د هرډول ثقيله وسلې غوښتنه کوله، حتا زما د مخالفت سربيره به يې هم هغه وسله د هغه قومندان په واک کې ورکوله. پر کابل فشار راوستل زموږ د ستراتيژۍ اساسي موخه وه. د کابل سقوط په جنګ کې زموږ د بريا په معنا وه. په همدې دليل ترټولو زيات پاکستاني سلاکاران پر کابل ښار د عملياتي پلان لپاره ګمارل شوي وه. که څه هم زه د لومړيو څخه افغانستان ته د پاکستاني سلاکارانو له ليږلو سره مخالف وم. خو د جنرال اختر د جدي امر په واسطه، د کابل تر فشار لاندې راوستلو لپاره په ۱۹۸۴ م کال کې يو لوی شمير سلاکاران افغانستان خاورې ته وليږل. چې له هغې ډلې د يوولسو ګروپونو څخه اووه ګروپونه يې يوازې پر کابل ښار د يرغلونو د پلانولو لپاره ګمارل شوي وه. دغه ګروپونو له اپريل څخه تر نوامبر پورې مختلف يرغلونه پلان کړل چې هر يو يې تر شپږو اونيو دوام وکړ.

....

په همدې حال کې جنرال اختر يو نوی پلان وړاندې کړو. چې له مخې به



«قومندان عبدالحق د کابل په راکټي یرغلونو کې لوی لاس درلود»

یې د مجاهدینو د مورال د لوړولو لپاره یرغلونه چټک او همغږي کړي تر څو د ۳۶ ساعتونو لپاره د کابل ځینې سیمې تر خپل واک لاندې راولي. زه ددې پلان لپاره د وخت غوښتونکی شوم خو هغه دا پلان له سیاف او ګلبدین سره شریک کړو هغوی هم په ډیرې لیوالتیا دغه پلان ومنه او د نورو درنو وسلو غوښتونکي شوه، ماته هدایت وشوه چې د پلان په اړه هغوی سره وغږیږم.

د خبرو اترو پایله دا شوه چې د پلان د ښه ترسراوي لپاره باید پلان په ښه همغږۍ او د دوه ډلو لخوا ترسره شي. څنګه چې د دافع هوا موثره وسلې شتون نه درلوده، د ورځې لخوا دا ډول یرغل ناممکن وه او باید د شپې لخوا ترسره شوی وای. او د دښمن د مصروف ساتلو لپاره باید په عین وخت کې د کابل، بګرام او جلال اباد پر هوایي میدانونو هم بریدونه شوي وای، چې لدې پرته د ۵۰۰۰ تنو مجاهدینو چې د دواړو تنظیمونو مشرانو پرې هوکړه کړې وه، د کابل په شاوخوا کې ناممکن وه.

زموږ پلان داسې وه چې ددې پرځای چې ۳۶ ساعته ځینې سیمې تر واک لاندې ونیسو، باید خپلې ټولې حملې همغږې او د شپې لخوا د څوو خواوو څخه یرغل وکړو، او د سهار له لمر ختو مخکې مجاهدین باید بیرته خپلو سنګرونو ته شاتګ وکړي. هیڅ یو رهبر ددې پلان د عملي کولو لپاره حاضر نشوه، دلیل یې دا راوړه چې په کافي اندازه ثقیله وسلې نلرو، پدې توګه دا پلان عملي نشوه.

زه هیڅکله پدې بریالی نه شوم، چې پر کابل همغږي بریدونه تنظیم کړم، خو سربیره پردې مې بیا هم مختلفو قومندانانو ته امر کاوه، په همغږي توګه پر کابل فیرونه وکړي. ترڅو دښمن فکر وکړي؛ چې همغږي عملیات شتون لري.

د کتاب په یوه برخو کې جنرال یوسف پر ریشخور فرقې د یرغل په اړه لیکي چې د بریالیتوب له امله یې پاکستاني افسران د پاکستان ولسمشر له لورې وستایل شوه:

«.... ددې ګروپ قومندان د خپل ګروپ سره د MBRL درې اونيزه کورس په بريالیتوب سره په پاکستان کې پايته ورسوه، له پايته رسيدو وروسته يې د دغه کورس له ښوونکو يو تن جګړن او دوه تنه افسران د هغه سره مل افغانستان ته وليږل شول.... زموږ افسرانو پريکړه وکړه چې بايد شپيته راکټونه پر کابل ښار وتوغول شي..... مجاهدينو د شپې په نيمايي کې راکټونه عيار او د الله اکبر شعار په ورکولو سره يې پر ريشخور فرقې د نيم ساعت په موده کې شپيته راکټونه فير کړل. چې د هغې په پايله کې په اور وسوځيده.... د نورو ټيمونو پشان دغه يو تن جګړن او دوه افسران د ولسمشر له لورې په مډالونو وستايل شول»

په نهم څپرکي کې د افغانستان د زيربينايي پروژو د ورانولو په اړه ليکي:

«د برښنا پايې د ډير زيان اړونکې وسيلې په توګه بلل کيدې. موږ ددغو مثلثي شکلو پايو د نړولو لپاره چې له سروبي څخه د شمال لويديځ په لور تر جبل السراج او کابل ښار پورې غځيدلي وې، مجاهدين روزل..... ترټولو لوی بريالیتوب مو په ۱۹۸۴ م کال کې لاسته راغی، چې په يوه شپه کې مو وکولای شو اتيا پايې ونړولې او کابل مو په تور تم کې کينوه... دغه عمليات د امريکايي ژورناليستانو په واسطه فلم برداري او د «ارامې عملياتو» په نوم په تلويزيونونو کې خپاره شوه. »

**پدې برخه کې زموږ تر ټولو ستر بریالیتوب په ۱۹۸۴ م کال د کابل-سروبي په لويه لارکې د يوې شپې په ترڅ کې د برښنا د لينونو اتيا پايو نسکورول او لمنځه وړل وه، چې کابل مو په تورتم کينوه.**

مجاهدينو ته د امريکې لخوا د الوتکو ضد توغنديو(سټينګر) ليږل او د هغوی څخه د ګټې اخيستنې مستقيم واک د آی‌ايس‌آی په لاس د کتاب بله برخه تشکيلوي چې ځينې برخې يې رانقلوم:

د ۱۹۸۶ کال د سپتمبر په ۲۵ وروسته له غرمې د ۳۵ تنو په تعداد مجاهدين د بوټو او د کنډو کپر ځمکو څخه په ګټه اخيستنې ځان د جلال اباد هوايي ميدان شمال ختيځو سيمو نږدې تپو تر يو نيم کيلو مترۍ ته ورساوه. هغوی درې ساعته د امنيتي ساحې تر سيوري لاندې پرته لدې چې

ولیدل شي ځای ونیوه. قومندان غفار کولای شو په ډیرې اسانۍ سره په پوستو کې موجوده عسکر ووینې.....

ما خپله قومندان غفار د درویش په نوم یو بل تن سره ددې ډول عملیاتو لپاره ګمارلی وه. درویش باید ورته دنده د کابل هوایی میدان ترڅنګ ترسره کړې وای. موږ ددې شیبې لپاره څلورکاله په تمه وو، تر څو د خپل



په اتیایمه لسیزه کې د کابل ښار دننه په ښاري ملي بس کې چاودنه.... د پاکستاني غلامانو په واسطه د ملکي خلکو وژنه همداسې دا څلور لسیزې دوام لري.

کرکجن دښمن سره په مساوي شرایطو کې ځای ونیسو. دغو دوو قومندانانو دنده درلوده چې د خپل سټینګر توغندیو په وسیله د دښمن هلیکوپټرې او الوتکې رانسکورې کړي. دواړو قومندانانو ددې کار لپاره له اوله یو له بل سره سیالۍ لرله.

د غفار لخوا د اور او الله اکبر نارې په وهلو سره درې راکټونو فیر شوه، چې دوه راکټه په هدف ولګید او دریم یې د فیر کوونکي په څو مترۍ کې پرته لدې چې چاودنه وکړي، ولویده. دوه هلیکوپټرې د ځمکې سره د لګیدلو په وخت کې چاودنې وکړې او لمنځه لاړې. همدا شان مجاهدینو دوه راکټه نور هم تیار او یو ځل بیا فیر کړل چې یو یې په هدف ولګید او بل یې هلیکوپټرې ته زیان ورساوه. چې پدې توګه د پنځو راکټونو په پایله کې درې تنه ووژل او مجاهدین زیات خوشحاله شوه.

دغه ورځ نه هیریدونکې او یو یاد پاتې کیدونکې ورځ وه، او غفار د شرط ګټونکی او مشهور شوه او وروسته یې تقریباً لس هلیکوپټرې او الوتکې لمنځه یوړې. ما هغه د جنرال اختر تر څنګ بوته تر څو خپلې ډالۍ او د کار بدله یې ومومي.

زموږ یو تر ټولو ستره لاسته راوړنه هم مخکې لدې چې سټینګر توغندي لاسته راوړو، په ۱۹۸۵ م کال کې د میګ ۲۱ جنګي الوتکې رانسکورول وه چې پیلوټ یې یو روسی او د قندهار څخه د هرات شینډنډ په لورې پرواز کاوه. موږ هغه د SA_7 راکټ په وسیله رانسکور کړه. خو پیلوټ یې

وژغورل شــوه او مجاهدينو پرته لدې چې د هغه موقف وپيژني بندي کړو. د شوروي لښکرو د هغه د موندلو لپاره لسګونه جنګي الوتکي او د زيات عسکر وليږل، مجاهدينو د شوروي عسکرو د حملو له ويرې هغه جنرال وواژه. خو د يو څه وخت وروسته پوه شوه چې نوموړی د شوروي د هوايي قواوو يو جنرال وه. د هغه پراشــوټ يې له ځان ســره پاکستان ته يوړه، او د پاکستان د بريا د يوه با ارزښته يادګار په توګه ساتل کيږي.



**د امریکا د وسلو زیرمه د بدخویه ماشوم په لاس کې!**



لیکونکی: شاداب روستایی

# د ګلبديني بشير قانت يو بل وحشت



کلونه کيږي چې د راکټيار د اسلامي ګوند يو تر ټولو داړونکي ځناور او جنايتکار قومندان د بشير قانت په نوم د تخار ولايت په چاه آب ولسوالۍ کې ددې سيمي بې دفاع ملکيان يرغمل کړي، او د خپلو وحشيانو سر يوځای يې د مخدره توکو په قاچاق، د تاريخي آثارو په لوټلو، د خلکو د مالونو د چور او تالان سربيره د يادې سيمې نجيب او پاک اشخاص په ډير وحشت سره په قتل رسوي.

په ترټولو نوې پيښه کې فاضل استوار د نجيب الله زوی د چاه آب ولسوالۍ د نورابه کلي يو تن اوسيدونکی چې د سيمې پياوړی ورزشکار او د نيکو اخلاقو خاوند ځوان وه، او په ټولو ځايونو کې به يې په ډيرې ميړانې د ياد وحشي له جناياتو پرده پورته کوله. د ۱۳۹۸ه ل د غبرګولې په لومړۍ نيټه د فريد حفيظ په نوم د بشير قانت وراره، د کرغيړن ګلبديني بشير قانت د خوريه نعيم په همکارۍ سره ووژل شوه. د فاضل د کورنۍ يو تن غړی وايي چې بشير قانت ددوي کورنۍ ته پخوا ګواښ کړی وه چې د زوی کړنو ته مو پام اوسي، چې په راتلونکې کې ورته خطر پيښولی شي. خو شهيد فاضل ددوي له ګواښنه نه ويريږي او چوپتيا نه غوره کوي. د سيمې يو بل تن اوسيدونکې چې د قانت له ويرې نه غواړې نوم يې واخيستل شي وايي:

«فريد او نعيم په يوه پلمه فاضل له کوره بهر کوي او لږ لرې يې په مرميو تيرباران کوي»

يو بل راپور رابښايي چې د نورابه سيمې اوسيدونکي د بشير قانت د لنډه غرو

لخوا ګوابنــل کیږي او د سیمې اوسیدونکي هم د ځان له ویرې وحشي بشیر قانت ته پیسـې ورکوي. د ځینو هغو اوســیدونکو نومونه چې بشیر قانت ته پیسې ورکوي په لاندې ډول دي:

۱ – عبدالفتاح ولد بیګل، ۳۰ زره افغانۍ
۲ – عبدالجمیل ولد جمعه ګل، ۳۰ زره افغانۍ
۳ – محب‌الله ولد بابه مراد؛ ۳۰ زره افغانی
۴ – خلیفه امان ولد بابه مراد؛ ۳۰ زره افغانی
۵ – حکمت‌الله ولد بابه مراد؛ ۳۰ زره افغانی
۶ – ویس‌الدین؛ ۳۰ زره افغانی
۷ – محمد ذاکر ولد عبدالقهار؛ ۱۰۰ زره افغانی
۸ – بسم‌الله ولد صاحب نظر؛ ۱۰۰ زره افغانی
۹ – مزراب ولد امیر محمد؛ ۳۰ زره افغانی
۱۰ – ضمیر ولد غلام جان؛ ۳۰ زره افغانی
۱۱ – ناصر ولد بوری بای؛ ۳۰ زره افغانی



له ښـي کیڼ اړخ ته: فرید حفیظ او نعیم د بشـیر قانت وراره او خوریه او د فاضل اسـتوار قاتلین

دا لومـړی ځل ندی چې دا وینې‌څښـونکی قاتـل د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره پداسې جنایتونو لاس پورې کوي. که څه هم د سیمې اوسیدونکو په کراتو د بشیر قانت محاکمې ته د راکښـلو لپاره په لاریونونو لاس پورې کړی، خو د ملي وحشـت حکومت چې د همدې خونخوارانو او غلو څخه جوړ شوی، هیڅ ډول غبرګون ندی ښودلی.

هیوادواله: تر څو چې خپله ددې داړونکي‌وینه‌څښونکي او جنایتکارانو د لمنځه



بشير قانت د رمې په منځ کې داړونکی ليوه.

وړلو لپاره چې له کلونو راهيسې لکه د ژوې زموږ پر ځان نښتي او وينه مو زبيښي، لاس په کار نشوه. لدې خلکو ضد نظام څخه دا تمه نشي کيدای چې زموږ غږ ته دې لبيک ووايي. هيوادواله راولاړ شه، کنه سبا زما او ستا وار دی.




**د جګړو د پای کونجي!**

پښتو ۱۴ مه گڼه، پسرلی ۱۳۹۸



ليکونکی: ذکريا

# د خپلواکۍ غوښتونکي سید عبدالهادي مبارز یاد دې ژوندی وي




په تیرو څو کلنو کې د فراه ولایت دننه هدفي وژنو پیښې ډیرې شوي، داسې ورځ به نه وي چې یو یا څو تنه د ښار دننه یا د ولسوالیو اړوند د مرمیو ښکار نشي. ډیری دا ډول وژنې حکومت تر کنټرول لاندې سیمو کې کیږي او تر اوسه د هیڅ یوې پیښې عاملین ندي نیول شوي. ددې وژنو اکثره موخې د قوم هغه متنفذین او روڼ‌آندي اشخاص دي چې په خلکو کې د نیک نوم خاوندان دي. چې د افغانستان قسم خوړلو دښمنانو د خپلو بادارانو د شومو موخو د پلي کیدو لپاره د هغوي ښکار پسې را اخیستي او رسنیو هم د خپل روښانفکرۍ ضد مفکورې له مخې په ټول توان ددې ډول پیښو پر وړاندې چوپتیا غوره کړې ده، او د راپورونو د خپرولو څخه یې ډډه کوي.

ددغو قربانیانو له ډلې یو هم سید عبدالهادي د عبدالباقي زوی د فراه د ښاري محکمې محرر چې دوه کاله مخکې د دندې څخه کور ته په لار د برید لاندې راغي او د مرمۍ د هغه ټپ له امله چې په سر کې لګیدلی وه په ولایتي روغتون کې ساه ورکوي.

سید عبدالهادي ۵۵ کلن وه، په یوه کورنۍ کې زیږیدلی وه او په ډیرو کړاوونو یې ښوونځی او د کرنې لیسه پای ته رسولې وه. پلار یې د غربت سربیره نوموړی په اووه کلنۍ کې د کلي په ښوونځي کې شامل کړو، وروسته له دریو کلنو د خپل کلي په لومړني ښوونځي کې چې نوی رامنځته شوی وه، د نورو زده کوونکو سره یو ځای نقل مکان وکړ. سید عبدالهادي د زده کړو سربیره ډیر کړاوونو هم ګالل.

هغه د خپل پلار سره د مرستې سربیره هره ورځ ۱۳ کیلو متره لار د ښوونځي لپاره وهله. کله چې د فراه د کرنې په ښوونځي کې شامل شوه ویې نشوه کړای د لیلیې څخه هم برخمن شي، ځکه په هغه وخت کې یوازې د شتمنو ځمکوالو زامن د لیلیې مستحق وه، او غریب پلار یې د نورو ستونزو سربیره د نوموړي د زده کړو بار هم په خپله غاړه واخیسته.

سید عبدالهادي د ښوونځي په دوره کې د ملي‌پلوه او روښانفکرۍ له نظریو سره بلد شوه او انقلابي تګلار یې ونیوله. خلقیانو د کودتا له لارې واک تر خپلې ولکې لاندې راوست، او په لنډ مهال کې یې په ډېرې بیرحمۍ په ټول هیواد او فراه کې د روښانفکره او نورو ټولنیزو اقشارو په لمنځه وړلو پیل وکړ. په هیواد کې واکمن سیاسي وحشت نوموړی اړ کړ چې ایران ته مهاجر شي. هغه د بیرجند او طبس په شاوخوا کې ژوند کاوه او د خښتو په بټیو کې د کارکولو له لارې ژوند مخته وړه. تردې چې څو میاشتې یې سخت او اجباري کارونه هم کول تر څو یو اندازه پیسې زیرمه کړي. او د زیرمې تر پایته رسیدو پورې په لوړ مورال دافغانستان خاورې ته تللو او هلته یې د ملي مقاومت تر جبهو پورې ځان رساوه او خپله برخه یې پکې اخیسته.

د روسانو په رانغوتلو او د خلقي او پرچمي جنایاتو په زیاتیدو سره د هیواد خپلواکي او د روسانو سره جګړه یې د ټولو برنامو په سر کې ځای درلوده او د سید منیر معروف چې په اقا ملک قومي جبهې یادیده( سادات) سره یوځای شوه. د سادات جبهه چې وروسته یې د فراه سورخاش عمومي جبهې سره چې د روښانفکره خپلواکۍ غوښتونکو لخوا رهبري کیده یو ځای شوه، او عبدالهادي هم د نورو مبارزینو سره یو ځای د روسانو او د هغوي د لاسپوځي نظام پر ضد په جګړو کې ونډه واخیسته.

هغه ساده او مسکانده انسان وه د ستونزو په وړاندې پیاوړی روحیه درلوده، ملګري یې د هغه د سربښندنې او زړورتیا ډیر یادونه لري، زیاتره وخت به د جګړې په لومړۍ کرښه کې له ټولو مخکې ولاړ وه.

د ډاکټر نجیب د رژیم له ماتې وروسته سید عبدالهادي له خپلې کورنۍ سره پخپل ټاټوبې چاه زندان کې ژوند پیل کړه، او د کرنې په کارونو بوخت شوه. د هغو نیکو اوصافو له امله یې چې لرل د خپل کلي د قومي شورا د اصلي استازي په توګه وټاکل شوه. هغه د خپلو کلیوالو د ستونزو په حل کې ځانګړی رول درلود او تل یې محرومو طبقو او ښځو د حقوقو څخه دفاع کوله.

هغه د خپل ژوند په اوږدو کې مزدور دولتونو ته چې ښکته پورته شول سر ټیټ

نکړ او د خپلو غریبو خلکو سـره تر اخره پخپلې وعدې ژمن پاتې شـوه او د هغوي سره یې یو ځای ژوند وکړ. هغه په غربت کې ژوند وکړ خو هیڅکله یې د زرو، مقام او ډالرو غلام نشـوه. په همغه ناڅیزه او کم معاش یې د فراه په ښـاري محکمه کې محرر پاتې شوه او په همدې یې ژوند مخته بیاوه، د ژوند تر پایه یې سرلوړی ژوند وکړ. تر دې چې د ۱۳۹۶ه ل د غویي میاشتې په ۱۳ نېټه له ماسپخین مخکې مهال د مسـلکي جنایتکارانو لخوا ووژل شـوه او خلک مو یو ځل بیا د غم په ټغرکینول شول.

روح دې ښاد او یاد یې تلپاتې




**د ټرامپ او پوټین مخامخ کیدل!**

کارتونیست: Paco Baca



**د وژنو پر وړاندې د خلکو یووالی!**

کارتونیست: Parker

# «د افغانستان د همبستګی ګوند» خپروني تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

## کابل

**نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## بامیان

**کتاب‌فروشی محمد ظاهر حیدری،**
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننگرهار

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

**مازیگر کتابپلورځی**
اسحاقزی مارکېټ، جلال‌آباد

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

## بغلان

**کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی**
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

## بدخشان

**کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی**
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

## نورستان

**عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا**
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

# دردیدلو هیوادوالو،

کــه د خپلــواک، آزاد او دموکــرات افغانســتان غوښــتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړۍ او بې‌وزلو خلکو د هوساینې هیله په زړه کې لرئ؛ که غواړئ د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندې خپله دنده ترسـره کړئ، نو د «افغانســتان د همبستګۍ ګوند» سره یوځای شی او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړئ.


پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: info@hambastagi.org
ویب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فیسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تویتر: twitter.com/solidarity22
یوټیوب: youtube.com/AfghanSolidarity


د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د خپلو کړنو مخکې وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرســتو ته اړتیا لری. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره هم‌غږي شی:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

# Hambastagi
(Solidarity)

A Publication of the Solidarity Party of Afghanistan

**14**

**PASHTO**




## ادانیا فرناندز،
## هغه ښځه چې ژوند یې
## د خپلو خلکو لپاره قرباني کړ

مخ ۲۷

قیمت: ۲۵ افغانی